

صدای طالبان

مجله صدای طالبان 04

شعبان المعظم ۱۴۴۵ ه ق بمطابق فروري۲۰۲۴ ء

د ۲۰۲۴م انتخابات؛ څېرې نه بلکې نظام بدل کړئ!

ابلیس لمړنی جمهوریت پال و!

د پاکستانیانو وینه څومره ارزښتناکه ده!؟

SHA'ABAN 1445

خلورم ټوک

FEBRUARY 2024

https://umnews.net

فهرست



سرليکنه

د ځوانانو ملي کنفرانس

د سې شنبې په ورځ، د جنورۍ په ۲۳مه نېټه رسنيو خبر ورکړ چې د پوځ سرلښکر يا لوی درستيز د ځوانانو ملي کنفرانس ته وينا کړې او د ګډونوالو پوښتنو ته يې ځوابونه هم ويلي دي، پدې اړه زموږ دريځ دا دی چې د لوی درستيز مسؤليت او وظيفه ويناوې او يا تقريرونه کول نه دي، که څه هم دا خبره سمه ده چې هغه يو ښه ويناوال دی، خو د هغه وينا ولس ته هيڅ ګومه ګټه نه رسوي، ځکه دا ډول ويناوې او تقريرونه پاکستاني ولسونه له تېرو پنځه اويا کلونو راهيسي اوري. که په بلوچستان کې جبري بې درکه کول او اختطافونه پای ومومي، نو د مظلومو خلکو په زړونو کې به نفرت پخپله ختم شي. په دښتو کې ښخې شوې خزانې هيڅکله له جذباتي او په زړه پورو ويناوو څخه نه راوځي. په پوليسو کې فساد، په بيروکراسي کې فساد، په چارواکو کې فساد، په نظامي ادارو کې فساد...

دا چې تاسې د تحريک انصاف ګوند غړي د مۍ د ۹مې نېټې د قضيې په تړاو يو يو پېدا او نيولای شئ، نو بيا دغه له فساد څخه ډک پوليس، سياستوال، ملکي او پوځي چارواکي او افسران ولې نشئ نيولای!؟

يواځې په تقريرونو او ويناوو سره سټيل ملز نشي چلېدلای، پي آئي اې پرمختګ نشي کولای، د ريل پټلۍ نظام نشي سمېدای او نه هم په تاڼو کې رشوت ختمېدای شي.

يواځې په خوله باندې د اسلامي دولت په ويلو نظام او دولت هيڅکله نشي اسلامي کېدای، که د مدينې د رياست مثالونه ورکوئ، نو پکارده چې په پاکستان کې اسلامي نظام نافذ کړئ، له برطانيې څخه راوړل شوي انګريزي قوانين ختم کړئ.

د پاکستان سياسي، قضايي، اقتصادي، پوځي او اداري ټول سکتورونه په غربي ډول دي.

اوس چې په افغانستان کې اسلامي حکومت هم شته، نو تاسې ولې د خپلو ټولو منافقانه لارو چارو په کارولو سره د هغوی پر ضد په شيطاني دسيسو بوخت ياست، خبره د اسلامي دولت او نظام کوئ او پلانونه مو ټول د اسلامي امارت (أعزها اللّه) په ماتولو، سقوط او عدم استحکام متمرکز دي.

کله د بې وزله مهاجرينو جبري اخراج او کله بيا په سرحدونو کې غير ضروري محدوديتونه او خنډونه، خپله خو هسې هم له اسلامي نظام څخه بېزاره، بې برخې او محروم ياست، اما چېرته چې اسلامي نظام قائم دی، هلته خو حکومت او ولسونه يې پرېږدي ترڅو په آرام سره خپل ژوند وکړي.

اقبال ستاسې په اړه څه ښه ويلي دي:

زباں سے کہہ بھی دیا لا الہ تو کیا حاصل
دل و نگاہ مسلماں نہیں تو کچھ بھی نہیں

د ۲۰۲۴م انتخابات؛ څېړي نه بلکې نظام بدل کړئ!

ليکوال
مولوي خالد قريشي

استېبلېشمنټ له صحنې څخه د عمران خان يا پي ټي آئي په لېرې کولو سره دا ځل دوه آزمويل شوي او لوبېدلي ټيمونه ميدان ته راوستل، خو ترمنځ يې توپير صرف دا دی چې د يو ټيم کپتان مخکينی او د بل ټيم کپتان بيا ډيبيو يا په بله اصطلاح د لومړی ځل لپاره ميدان ته نوی راوتلی دی، که څه هم عمران هغه وخت واک ته ورسول شو او بيا تر هغې مودې پورې د واک او اقتدار څښتن پاتې شو، تر کومې چې د استېبلېشمنټ خوښه او منظوره وه، خو له بده مرغه چې Running Between The wicket په جريان کې Miss under standing له وجې، يا په بله اصطلاح د دوه وېکټو د ساتلو په پار په منډه وهونکو دوه لوبغاړو کې يو يې چې کمزوری و، منډه ونشواى وهلاى او رن اوټ شو، چې پدې سره استېبلېشمنټ يو ځل بيا دې ته اړ شو چې زړې څېرې يو ځل بيا وازمويي.

که چېرته په انتخاباتي سيستم يا هم په جمهوري نظام باندې خبره کوو، نو شايد دا بحث ډېر اوږد شي او نه هم زموږ په څېر کمزوري بندګان د يادې موضوع په اړه د ليکلو کامل حق ادا کولای شي، البته په ياد مورد د جيدو علماء کرامو کښې ليکنې، تصنيفات، تقريرونه او ثبت شوي ويناوې شته دي، بهتره دا ده چې هغه مطالعه او واورېدل شي. البته دې هرڅه ته په کتو يوازې دومره ويلای شو، چې د مروجه يا رائج جمهوريت سره که مغربي وليکل شي او که مشرقي، «اسلامي» لفظ ورسره وليکئ يا نه، خو حقيقت دا دی چې که چېرته له هرې زاويې ورته په دقيقه توګه وکتل شي، نو دا زور له لارې په مسلمانانو باندې مسلط شوی يو ظالمانه، غيرعادلانه، غير شرعي او باطل نظام دی.

راځو خپلې خبرې ته، هغه داچې موږ دلته په پاکستان کې د حاکم رائج جمهوري نظام او سياسي ګوندونو په اړه خبره کوو، هغه چې د پاکستان بېچاره ولسونه يې د مرګ په ژۍ درلولي دي.

اول بايد دا ووايم، چې پاکستان په واقعيت کې تش په نوم يو جمهوري هېواد دی، يا په بله اصطلاح بايد داسې ووايو، چې په لومړي سر کې دا مظلومه خاوره د لکونو مسلمانانو له لوري د مختلفو قربانيو په بدل کې د

اسلام په نوم آزاده شوه، اما له پيله بيا تر اوسه پورې په ظاهري توګه يو جمهوري هېواد دی، چې د همدې لپاره هر پنځه کاله وروسته د انتخاباتو په نوم سياسي ډرامه رامنځته کېږي، د ملت په اربونو روپۍ مصرفېږي خو په په اصل کې دا يوه پوځي قرارګاه او ښارکوټی دی، چې له امله يې نن ورځ د پاکستان اقتصادي، سياسي او بله هره بهرنۍ او کورنۍ پاليسي له صفر سره ضرب ده. شاعر څه ښه ويلي دي:

نہ خدا ہی ملا نہ وصال صنم
نہ ادھر کے ہوئے نہ ادھر کے ہوئے
رہے دل میں ہمارے یہ رنج والم
نہ ادھر کے ہوئے نہ ادھر کے ہوئے

همدا وجه ده، چې د تحريک طالبان پاکستان تر نوم لاندې يو پراخ وسله وال جوړښت او چټک عسکري محاذ د اجيرو پاکستاني امنيتي او پوځي ادارو په خلاف خپل ګړندي او نظامي فعاليتونه ترسره کوي، ځکه چې په دې هېواد باندې يوه داسې طبقه مسلطه او حاکمه ده، چې په شتون کې يې اسلام څه چې جمهوريت هم ناکام او حاکميت يې له صفر سره برابر دی.

که چېرته دوی نه وای، يا داچې د مجاهدينو په لاس له شکست او ماتې سره مخ او واک او حاکميت يې تر خاورو لاندې شي، نو هغه وخت بيا دلته د شرعي نظام او الهي قوانينو د نفاذ لار ترډېره حده آسانه او ممکنه شي.

إن شاء اللّٰه تعالى

بيا که فکر وکړو، نو مخونه او څېرې څو څو ځلې بدلې شوې، همداراز په ټول هېواد او په مختلفو صوبو باندې يې کلونه کلونه حکومتونه وکړل، ولس ته يې څه ورکړل؟ هيڅ نه

دا ځل په رسنيو کې هغه ګوندونه چې زياتې نارې وهي، هغه د «پاکستان مسلم ليګ ن» او «پاکستان پيپلز» ګوندونه دي، چې يو يې د «اقتصادي ثبات» او بل يې بيا «ډوډۍ، کالي، کور» په سياسي شعارونو ملت په دوکه کې اچولی او پخپله يې بيا خپلې خزانې او جيبونه تر خولو پورې ډک کړل. همدا نن ورځ لاړ شئ او د پاکستان په خپل ستر ټلويزوني چېنل جيو نيوز کې د «اليکشن سيل» تر سرليک لاندې ويډيوګانې وګورئ چې د کراچۍ او لاهور په څېر په سترو پرمختلليو تجارتي ښارونو کې عام خلک د بريښنا، ګاز، اوبو، فاضله موادو، خوراکي توکو، روغتيا، زده کړو او همداراز ښارونو او کارخانو ته د تګ راتګ په وخت د سړکونو په څېر له څه ډول لومړنيو اسانتياوو څخه بې برخې او د بنيادي مشکلاتو ښکار دي.

د ملګرو ملتونو لخوا د ۲۰۲۲م کال په اوږدو کې په يو خپور شوي راپور کې ويل شوي وو، چې په دې کې هيڅ شک نشته چې د مظفرګړ په څېر د کډون د جنوبي پنجاب اکثره ضلعې (ولسوالۍ) د بنيادي ضرورتونو او پرمختګ څخه شاته پاتې او پسمانده سيمې دي. په تېرو وختونو کې له دغو سيمو

ځکه تاکل شویو د اسمبلۍ یا پارلمان غړو هم د دوی په ودانولو او پرمختګ کې کوم د پام وړ رول نه دی لوبولی چې له امله یې نن ورځ دغه سیمې د پوهنې، روغتیا او نظافت او همداراز د ماشومانو د حقونو او پالنې په څېر له اساسي ستونزو سره مخ دي.

په ورته ډول، د سیند د تر صحرا په اړه د دنیا نیوز مقاله وګورئ چې د ۲۰۲۳م کال د مارچ په میاشت کې خپره شوې وه:

«د روغتیا ریاست د معلوماتو له مخې، په تېرو ۱۴ میاشتو کې د تهرپارکر په دولتي روغتونونو کې له ۱,۰۰۰ څخه زیاتو ماشومانو خپل ژوند له لاسه ورکړی. د عامې روغتیا ریاست وایي، چې د ماشومانو د مړینې اصلي لامل د ماشومانو د سمې ودې نشتوالی دی، له بلې خوا ناروغان بیا وایي، چې په روغتونونو کې نه ډاکټران شته او نه هم د درملو کوم څرک لیدل کېږي».

که د تجربې په اساس خبره وکړو، نو محترمو لوستونکو! تاسې په تېرو ۷۵ کلونو کې ولیدل او واورېدل چې د جمهوریت یا ډیموکراسۍ تر چتر لاندې هیڅوک تراوسه په خپل شعار کې ندي بریالي شوي، له دې لارې خو نه اسلامي نظام نافذ شو، نه خلکو ته ډوډۍ، ټوکر، جامې او وریا کورونه ورکړل شول، نه پاکستان په اقتصادي لحاظ ثبات وموند، نه یو کروړ وکړو دندې ترلاسه کړې، نه کراچۍ صوبه شوه، نه له هزارستان څخه صوبه جوړه شوه، نه د جنوبي پنجاب څخه صوبه جوړه شوه، نه مو په پښتونخوا باندې «خپل اختیار» وچلید، نه د بلوچستان ستونزې او مشکلات حل شول او نه هم انفلاسیون، ګرانۍ او د بیو لوړوالي پای وموند.

د پاکستان له مؤمنو ولسونو او مظلومو خلکو مو جدي غوښتنه ده، چې دا ټولټاکنې د تل لپاره بایکاټ کړي، د رایې له کارولو دې ډډه وکړي، په دې کې نه د دنیا خیر شته او نه د آخرت، بلکې د دنیا ذلت خو مو پخپلو سترګو لیدلی دی. وای یوځلې دوه چرسیان د یو چا په څنګ کې تېر شول، ولاړ کس ورته وویل چې له تاسې څخه خو ډېر بد بوی ځي، ځي ولاړ شئ او جامې مو بدلې کړئ، هغه دواړه چرسیان ولاړل او پخپل منځ کې د یوبل هماغه خیرنې جامې سره بدلې کړې. نن ورځ همدا حال کټ مټ د رایې یا ووټ ورکوونکو هم دی، چې دوی هم د یو چرسي جامې له هغه څخه باسي او بل ته یې ور اغوندي، چې پدې سره تبدیلي خو راځي، خو اما هغه بدبویي یې هماغسې پاتې وي.

نو باید ووایم، چې موږ ته د څېرو بدلولو نه بلکې د نظام د بدلولو سخت ضرورت دی، د یو داسې نظام چې د خلکو رایې ته اړتیا ونلري، او هغه د «لا اله الا اللّه» نظام دی، چې پکې یواځې او یواځې د یو امیر امارت او قیادت چلېږي او په نورو ټولو باندې یې اطاعت لازم او واجب وي.

اللّه تعالی دې موږ ته هم زموږ په پاکه خاوره باندې د شرعي نظام د نفاذ توفیق او د لیدلو سعادت را په برخه کړي. آمین

د پاکستانیانو وینه څومره ارزښتناکه ده؟!

ليکوال
نويد الحسن
يوسفزی

«د یو پاکستاني وینه له پوره افغانستان څخه ډېره ارزښتناکه ده».

څو ورځې وړاندې د پاکستان د پوځ سرلښکر عاصم منیر په جناح کنونشن سنټر کې محصلینو ته د وینا نه وروسته د خپل بدنام شوي او منفور شهرت د ژغورلو لپاره د سوالونو او ځوابونو یوه لړۍ پیل کړه، نوموړي د نورو پوښتنو او ځوابونو ترڅنګ د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل، چې موږ ته د یو پاکستاني وګړي وینه له ټول افغانستان څخه ډېر ارزښت لري. په دغه مجلس کې تر ټولو ډېره تر بحث لاندې نیول شوې دې خبرې په اړه هیڅ له حافظ صاحب څخه کوم وضاحت ونه غوښت، پداسې حال کې چې هغه نه کوم دروغ ویلي او نه یې کومه غلطه خبره کړې وه، خو بس صرف دومره وه د غونډې ګډونوالو ته د خپلې خبرې په اړه وضاحت ورکول ورڅخه هېر شول.

اول خو د دې خبرې وضاحت کول ضروري ګڼم، چې پوښتنې هم د شاغلي خپلې پوښتنې وې او ځوابونه هم له مخکې څخه لیکل شوي وو، بس یوه منصوبه وه چې د خپلې بې شرمۍ، بې ځایه سیاسي مداخلې او بدمعاشۍ د پټولو په خاطر جوړه شوې وه. کامیابه شوه او که ناکامه د دې اټکل تاسې په ټولنیزو رسنیو کې د عامو پاکستاني ولسونو له تبصرو څخه ښه کولای شئ.

ځکه ټولو خلکو هر عام او خاص ته د دوی په خلاف د څه د ویلو او لیکلو انجام او پایله ډېره ښه معلومه ده، نو هغوی به بیا ولې داسې پوښتنې کوي چې له امله یې دوی اختطاف کیږي، ورکیږي، بې عزته کیږي او یا یې د کورنۍ غړي او تورسرې ښځې لوڅې لغړې او ویډیوګانې ترې جوړیږي.

په هر حال، دا ځانته یو جدا او اوږد بحث دی، راځو د حافظ صاحب هغې جملې ته چې په ټولنیزو رسنیو کې ډېره زیاته وائرل او مشهوره شوې ده.

هوکې! همدا خو د پاکستانیانو وینه ده، چې په عوض کې یې پاکستان چلیږي، افغانان پخپله په مشکلاتو کې راګیر دي، هغوی به پاکستان ته څه شی ورکړای شي؟!

هوکې؛ همدا خو د پاکستاني ولسونو وینه ده چې په بدل کې یې امریکا ډالر ورکوي او د چاړواکو جیبونه پرې ډکیږي.

هوکې؛ د همدې وینې په بدل کې د

بهرنیو بادارانو څخه د ترلاسه شوي مهربانۍ او شفقت په مټ دا هیواد څه ناڅه چلیږي.
شاوخوا له ۱۹۷۳م کال څخه واخله تر نن ورځې پورې چې څومره روپۍ دې هیواد ته له بهر څخه راغلي، هغه ټولې د همدې پاکستانیانو د وینو د تویلو په بدل کې ترلاسه شوې دي.
له ۱۹۷۳م کال څخه راپیلوا په بلوچستان کې د پوځي عملیاتو په نوم د انګرېزانو د خوشحالو او له هغوی څخه د څو ډالرو د ترلاسه کولو په پار د زرهاوو بلوڅانو بې ګناه وینې توی شوې، چې له هغې وروسته دا لړۍ تر ۲۰۲۱م کال پورې وغځېده او په بدل کې یې د ترلاسه شویو روپیو ته په کتو د راهِ نجات، رد الفساد او ضرب غضب پشان نومونه ورکړل شول.
داچې کله امریکا افغانستان پرېښود او تري ووتله او نور نه غواړي ترڅو دلته څوک ووژني، اوس نو د راهِ فرار شرمېدلیو ډالري عملیاتو لپاره د پوځ د سرلښکر هڅې مورِ او تاسې ټول وینو، چې امریکا ته ولاړ او بېرته ناکام او مایوسه راستون شو.
سعودي عربستان ته ولاړ او بېرته ناکام راستون شو.
له ایران سره په لاره اچول شوي منصوبه یې هم ناکامه شوه.
له افغانستان سره یې هم ګن مسائل رامخته کړل او د بنې په څېر چلند یې ورسره پېل کړی دی.
او هندوستان ته خو هېڅ هم نه وایي او نه ویلای شي.

د پاکستانیانو وینه څومره ارزښتناکه ده؟

پدې اړه د طالبانو له فکري زاویې خبره نکوو، ځکه هغوی خو ستاسې په آند تروریستان او دهشت ګرد دي، خو باید ووایو، چې د پاکستانیانو د وینې ارزښت هغه وخت ډېر ښه معلوم شو، کله چې د آمریکا د سفارت یو کارمند ریمنډیوس په لاهور کې دوه تنه موټرسایکل سپاره په ډزو ووژل او بیا د څو روپیو په بدل کې د هغوی دغه قاتل په ډېر خوندي توګه خپلې باداري آمریکا ته وسپارل شو.
د پاکستانیانو وینه څومره مهمه ده، دومره مهمه چې د ډېر ارزښت له امله نن ورځ په ګوانتانامو کې له عافیه صدیقې (فک اللّٰه أسرها) سره څه شی نه ترسره کیږي؟، هغه هرڅه نومورې د خپل وکیل په خوله پاکستانیانو ته ویلي او داسې معلومات هم ترلاسه شوي چې پاکستاني چارواکو د نومورې د خلاصون لپاره هیڅ کوښښ ندی کړی، بلکې په اصل کې هیڅ کله نه غواړي چې نومورې له زندانه راخلاصه شي.

د یو پاکستاني وګړي وینه دومره مهمه ده چې که چېرته امریکایان وغواړي، کولای شي ترڅو یو څوک چې هر چېرته یې خوښه وي، په ډرون برید کې په نښه کړي.


د یو پاکستاني وینه دومره مهمه ده چې له هند څخه یو طیاره کولای شي راشي او پاکستاني ولسونه بمباري کړي، خو اما کله چې یې پیلوټ ونیول شي، نو بیا هغه د حکومت د رسمي پروتوکول او خوندیتوب ترڅنګ په ډېر ویاړ سره هند ته سپارل کېږي.

حافظ صاحب! بس داسې به دې ویلي و چې د یو تابعدار پوځي وینه افغانستان څه چې له امریکې او بریتانیې څخه پرته له نورې ټولې نړۍ څخه مهمه ده.

د پاکستاني وګړي وینه څومره مهمه ده، پدې باندې پنځوس ټوکه کتاب لیکل کېدای شي، بلکې پدې باندې په لسهاوو کتابونه، مجلې او مقالې لیکل شوي هم دي، پدې لیکنه کې مې یوازې څو شیان اشارتاً ذکر کړل، مقصد مې دا و چې هغه کسانو ته شرم پکار دی چې لاسونه یې د پاکستانیانو په وینو سره دي او دوی بیا هم د پاکستانیانو د وینې د ارزښت په اړه خبرې کوي.

افغانستان ته د پاکستان په وړاندې د هغوی د ځمکې د استعمال په اړه اخطارونه هم د یو داسې چا له خولې اورېدل کېږي، چا چې ناټو ته خپلې ټولې ځمکنۍ او هوایي لارې خلاصې او په افغانستان باندې یې له پنځوس زرو ډېر بریدونه وکړل، هغوی سره یې د اکمالاتو په رسولو کې مرسته وکړه، د لومړۍ کرښې د ملګري ویاړ یې ورڅخه ترلاسه او خپل باداران یې خوشحاله کړل، د اسلامي امارت مخکښ مشران یې د کلونو کلونو لپاره په وحشي زندانونو کې د تورو تمبو شاته واچول، اختطاف یې کړل، په شهادتونو یې ورسول او ډېر نور یې بیا له نیولو وروسته خپلې باداري آمریکا ته وسپارل او اوس پدې هرڅه په ډېرې بې شرمۍ سره غواړي، سترګې پټې کړي او وایي چې د افغانستان خاوره زموږ په خلاف استعمالیږي، پداسې حال کې چې نه پدې اړه کوم ثبوت لري او نه هم د کوم طالب مشر اعترافي څرګندوني، بلکې دا هرڅه فقط او فقط الزام تراشي او تهمت لګونه ده.

په پاکستان باندې د پوځ ولکه؛ د څه لپاره؟!



لیکوال: اینجنیر سعد فرقان

په پاکستاني رسنیو کې دا امتیاز او ویاړ یوازې د تحریک طالبان پاکستان «صدای طالبان» مجله لري، چې په آزاده توګه کولای شي ترڅو د پاکستان او سیمې په اړه کره او دقیق معلومات تر خپلو کتونکو ورسوي، ریښتیاوو ته ریښتیا او دروغو ته دروغ ووایي، ځکه بلخوا تاسې ته بهتره معلومه ده چې د پاکستان په غلامو رسنیو کې یوازې او یوازې هغه څه شودل کېږي او ویل کېږي، چې په پاکستان باندې د قابضو او حاکمو چارواکو شومې موخې، ناوړه غوښتنې او باطل نظریات پکې نغښتې وي.

هغه رسنۍ او ټلویزیوني چینلونه چې دم ګړۍ د افغان حکومت په خلاف په پوچو تبلیغاتو بوخت دي، څو میاشتې وړاندې همدې رسنیو او ټلویزیوني چینلونو طالبان د اسلامي اتلانو په توګه خپلو کتونکو ته وړاندې کول او له نړیوالو څخه یې د طالبانو د رسمیت پېژندلو په اړه غوښتنې او وړاندېزونه کول.

په یاد ولرئ! چې دوی پرون هم د استبلېشمنټ په اشارو روان وو او غړېدل او نن هم د استبلېشمنټ په اشارو نڅا کوي او د هغوی په اشارو ګډېږي، دا غلامې رسنۍ هیڅکله دومره جرئت نه لري چې په پاکستان باندې د قابضو ظالمو حاکمو چارواکو په اړه په ښکاره توګه حقائق منعکس کړي.

عمر میډیا تل هڅه کوي ترڅو تر خپلو مؤمنو ولسونو او پاکستانیو عوامو دا خبره ورسوي، چې په ګران هېواد پاکستان کې د ټولو مشکلاتو، فسادونو، بد امنیو او ستونزو اساسي منبع او سرچینه او همداراز د پاکستان د ملي شتمنیو غله او پرې واکمن او قابض وګړي د پاکستاني پوځ افسران او لوړرتبه چارواکي دي، خو پوښتنه داده چې پاکستان باندې د پوځ ولکه د څه لپاره ده؟!

په ماشومتوب کې مو په ښونځي کې یوه کیسه ګڼۍ لوستلې وه، داسې چې یوځل د دوه پیشوګانو ترمنځ د ډوډۍ په سر جنګ و، یوې ویل چې زه یې خورم او بلې ویل چې زه یې خورم، پدې وخت کې یوه بیزو چې پاس په ونه کې ناسته وه او د پیشوګانو ترمنځ د جنګ دغه صحنه یې ننداره کوله، له ونې راښکته او پیشوګانو ته یې وویل چې زه مو ترمېنځ فیصله کووم، نو یې ډوډۍ ځیني واخیسته، دوه

برخې يې كړه او دواړه برخې يې د ترازو (تلې) په دواړو غاړو كې كېښودې، ګوري چې د يو لوري برخه درنه او زياته ده، نو يې لېږ حصه ځيني وخوړه، چې پدې وخت كې د تلې بل لورى دروند شو، نو يې له هغې برخې څخه هم څه حصه وخوړه، لندو داچې دا سلسله څو ځلې تكرار شوه، چې پدې سره د ډوډۍ دواړه برخې بيزو په خوړلو خوړلو ختمې كړې او پيشوګاني دواړه همداسې تشې خولې پاتې شوې.

د پاكستان په سياست كې هم سياستوال د پيشوګانو او پوځي جنرالان بيا د بيزو كردار په ډېر ښه ډول ترسره كوي.

داچې سياستوال د واک، قدرت او حكومت د حصول په لالچ او حرص كې د پوځي جنرالانو او اسټبلېشمنټ په غلامۍ هم بسنه نه كوي، نو پوځي جنرالان او اسټبلېشمنټ بيا د سياستوالو له دغه ناوړه حرص او تمې څخه په استفادې د هېواد ټولې ملي شتمنۍ او زېرمې په رڼا ورځ لوټ كوي.

د پاكستان ټول تاريخ وګورئ، د سياستوالو له لوري د يوبل په خلاف د رامنځته شويو سازشونو او دسيسو ترشا تل د پوځي جنرالانو لاسونه او شومي پديدي پټې وي، خو ترټولو د پام وړ خبره بيا دا ده، چې تر اوسه پوري هيڅ يو پوځي جنرال ته چا د كړيو فسادونو سزا ورنكړه، بلكې دغه پوځي جنرالان او اسټبلېشمنټ د خپلې مكارۍ چالاكۍ په كارولو سره تل دغه سياستوال په خپل منځ كې په جنګ اچوي او پخپله بيا ځانونه له صحنې څخه لېرې ساتي، ترڅو ځانونه ولس ته ناخبره او ګوښه وښايي.

د پاكستان له جوړېدو سره سم د يوبل په وړاندې د سازشونو او دسيسو جوړولو لړۍ پېل شوه، د پاكستان د بنسټګر په نامه د مشهور سړي پراسرار مړينه او بيا په رڼا ورځ د لياقت علي خان وژنه، پدې هرڅه كې د سازشونو او دسيسو يو لوى جال لېدل كېږي، چې سكندر مرزا او جنرال ايوب خان هم پكې ښكېل ښكاري، كه لېږ مخكې لاړ شو، نو وبه ګورو چې بيا له هغه وروسته د ذوالفقار علي بوټو او يحيى خان د دسيسو او توطيو له امله هېواد ټوټه ټوټه شو، بوټو د اپوزيسيون او خپلو مخالفينو د ځپلو او همداراز د اوږدې مودې لپاره د واک د ترلاسه كولو لپاره ستر جنرال ضياالحق د پوځ مشر وټاكه، چې بيا هماغه پوځي مشر همدا بوټو په اعدام كړ، بيا د افغان جهاد په دوركې د مجاهدينو د ملاتړ او حمايې په وجه همدا جنرال ضياء الحق په طياره كې ووژل شو.

بيا نوى پوځي قيادت رامنځته شو، چې

هغوی بیا د بوټو لور بېنظیر بوټو ته د هېواد مشري په لاس ورکړه، اما کله چې هغې د خپلې خوښې کارونو ته لاس واچاو، هغه یې لېرې او پرځای یې نوازشریف راوستل شو، داچې نوازشریف د ځینو پوځي فرمانونو له منلو څخه انکار وکړ، اسټبلېشمنټ ته بېرته د بېنظیر بوټو د استعمال ضرورت پېښ شو، چې په همدې لړکې هغه بیا د دوهم ځل لپاره واک ته ورسول شوه، داچې د بېنظیرې د دوهم ځلي واک او بادشاهۍ اېله درې کاله پوره شوي وو، د پوځي اسټبلېشمنټ او نوازشریف ترمنځ د پردو ترشا د ترسره شوې معاملې په اساس نوازشریف د بیا ځلي لپاره صدراعظم وټاکل شو.

باید ووایم، چې د دې دورې او سیاسي جریان په اوږدو کې سیاستوال لاپسې کمزوري او ضعیف خو جنرالان بیا په ځواک او اهمیت کې نور هم لوړ شول، د واک او قدرت پرسر دغه جنګ لاهم روان و، چې پروېز مشرف د کودتا له لارې د نوازشریف حکومت ړنګ او ځان یې واک ته ورساوو، چې پدې سره هېواد یو ځلي بیا شاخوا د اته کلونو لپاره د پوځ لاس ته وغورځېد او پدغه جریان کې په هېواد کې له نورو بدلونونو سره سره د ډېرو ادارو، ارګانونو او سکتورونو کنټرول په مستقیمه توګه د پوځ لاس ته وغورځېد.

چې بیا د پیپلز ګوند حکومت رامنځته شو، پوځي جنرالانو له سیاستوالو څخه د لوبو ګوډاګي جوړ او عملي صحنې ته یې رامخکې کړل او خپله د پردې ترشا پټ شول، خو په غیر مستقیم ډول بیا په پوره توګه په واک او حکمرانۍ کې دخیل او شریک وو، تردې چې بیا د سیاستوالو ترمنځ د دسیسو او توطیو او همدارازد موجوده نااهلۍ له وجې د عمران خان د وفادارۍ ازموېلو فیصله وشوه، عمران خان هم د حکومت او واک په لاڅ کې په هیڅ شي بسنه ونه کړه، د نوموړي د حکومت په دوره کې د پوځیانو د عظمت قانون منظور شو، (په یاد به مو وي، چې د پوځي مراعاتو او همدارازد اړونده موضوعاتو د منظورېدو په لړکې ټول ګوندونه سره د یوبل له سیاسي مخالفت، له پوځي اتحاد سره یوځای پاتې شول)، د پوځ په خلاف د لیکنو او ویلو د سزاګانو قانون جوړ شو، چې له بده مرغه نن ورځ د همغه په کارکنانو باندې عملي کېږي.

په مختلفو ادارو کې برحاله پوځي افسران په دندو وګمارل شول، خو چې کله یې له پوځ سره لږ څه مخالفت منځته راغی، نو نورو سیاسي ګوندونو او سیاستوالو د پوځ د ساتنې، عظمت او له هغوی سره د

وفـــاداری لاس پورتـــه کـــړ، هماغـــه و چـــې پـــوځ راغـــی او نومـــوړی یـــې تـــر زنـــدان ورســـاوو، چـــې نومـــوړي بيـــا لـــه خپلـــې واکمنـــۍ څخـــه وروســـته دا هـــم وويـــل، چـــې «زه يـــو بـــې وســـه وزيراعظم وم، فيصلـــې جنـــرال باجـــوه کولـــې». دا لـــړۍ پـــه همـــدې ډول روانـــه وه چـــې حالـــت اوس دې نتيجـــې ورســـېد، چـــې څـــوک بـــه اوس پـــوځ تـــه خپـــل بشـــپړ اطمينـــان او د وفـــاداری يقيـــن ورکـــوي، هماغـــه بـــه واک تـــه رســـول کېـــږي.

خـــو خوشـــبختانه ويـــلای شـــو، پـــه موجـــوده عصـــر کـــې پـــه خلکـــو کـــې څـــه ناڅـــه سياســـي پوهـــه او بصيـــرت پېـــدا شـــوی، همـــدا لامـــل و چـــې خلکـــو د عمـــران خـــان د حکومـــت د راپرځولـــو پـــه غبرګـــون کـــې د پارلمـــان پـــه ځـــای د پوځـــي ادارو او دفترونـــو پـــه مخکـــې لاريونونـــه او مظاهرې وکـــړې، چـــې دا د اسټبلېشـــمنټ لپـــاره د خطـــر يـــو زنـــګ و. پوځـــي اسټبلېشـــمنټ د خپلـــې دبدبـــې او رعـــب برقـــرار ســـاتلو لپـــاره د تحريـــک انصـــاف ګونـــد د غـــړو نېـــول پېـــل کـــړل چـــې دا لـــړۍ لاتراوســـه پـــورې دوام لـــري.

د دغـــو لالچـــي، حريصـــو او مفـــاد پرســـتو سياســـتوالو لـــه وجـــې د پـــوځ ولکـــه او کنټـــرول ورځ تربلـــې ډېرېـــږي، چـــې پـــه نتيجـــه کـــې يـــې نـــن ورځ لـــه بـــده مرغـــه پـــه هـــره اداره کـــې تـــردې چـــې پـــه اکثـــرو هېوادنـــو کـــې د پاکســـتان پـــه ســـفارتونو کـــې پوځـــي افســـران پـــه مختلفـــو بســـتونو ټـــاکل شـــوي دي.

ابلیس لمړنی جمهوریت پال و!

ليکوال: ابو خوله

مأخوذ: تفسير القرآن شهيد شيخ خالد حقاني رحمه الله

کله چې الله تعالی حضرت ادم علیه السلام پیدا کړ، نو ټولو فرشتو او ابلیس ته یې امر وکړ چې ادم ته سجده وکړئ، ټولو فرشتو د الله تعالی په امر حضرت ادم ته سجده وکړه خو ابلیس انکار وکړ، الله تعالی ترې پوښتنه وکړه:

(قَالَ مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ).

ژباړه: چې کوم شي د سجدې نه منع کړې!؟ شيطان وويل:

(قَالَ أَنَا خَيْرٌ مِنْهُ خَلَقْتَنِي مِن نَارٍ وَخَلَقْتَهُ مِن طِينٍ)

يانې: زه غوره يم د هغه نه، زه دې د اور نه پيدا کړی يم، او هغه دې د خټې نه پيدا کړی دی، د نصّ صريح خلاف يې عقلي قياس وکړ چې اور غوره دی د خټې نه، ابن عباس، حسن او ابن سيرين رحمه الله فرمايي: (قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَالْحَسَنُ وَابْنُ سِيرِينَ: أَوَّلُ مَنْ قَاسَ إِبْلِيسُ فَأَخْطَأَ الْقِيَاسَ. فمن قاس الدين برأيه قرنه مع إِبْلِيسَ) [تفسير القرطبي، ۱۷۱/ ۷]

ژباړه: اول قياس ابليس کړی او په قياس کې خطاء شوی، امام قرطبي رحمه الله فرمايلي پس چا چې په دين کې قياس وکړ په خپلې رايې سره (د نصوصو خلاف) هغه د ابليس متبع دی.

مونږ وايو، چې د اسلام په ضد د جمهوريت هم څلور اصول دي، يو پکې عقل انساني دی، د قرآن او سنت هر حکم ته به هغه وخت قانوني درجه او حيثيت ميلاوېږي چې انساني عقل يې منظور کړي، او دا د شيطان کار دی او دا کارېې د ځان د لوی ګڼلو او د الله حکم ته سپک کتلو له امله کړی و، نو ځکه الله جل جلاله ذليله کړ، ويې رټلو او ويې شړلو.

اوس هم په جمهوريت کې دا کار د تکبر له امله او د قرآن کريم سپک ګڼلو له امله ترسره کېږي، د جمهوري ملايانو شرعي بيلونه يې دې وجې نه نامنظور، مسترد او فيل کړل چې هغه د آئين څخه خلاف وو، او دوی خو د قرآن او حديث د تللو او قانون جوړېدلو لپاره ميزان او اصل او مقدس کتاب آئين ګڼي، نو اول خو قرآن دوتهايي اکثريت ته محتاج کړي، خو دوتهايي اکثريت نه پس که قرآن د آئين سره متفق نه و، نو قانون نشي جوړېدلای، ځکه په پاکستان کې درې ځله شريعت بل فيل کړل شوی، مسترد شوی او نامنظور کړل شوی دی، دا ځکه چې دوی د نصوصو خلاف، د قطعي الثبوت او قطعي الدلالة احکاماتو خلاف له انساني عقل څخه کار اخلي او د ابليس پشان عقلي قياس کوي، ځکه په جمهوريت کې اصل کفر دا دی، او دا کار اول



د افغانانو په مقابل کې د پاکستانیانو وینه؛ طنزیه لیکنه

لیکوال: سلمان حمزه ډېروي

ښاغلي عاصم منیر صاحب!

تاسې وویل چې د یو پاکستاني وینه له ټول افغانستان او افغانانو څخه ډېره درنه ارزښتناکه ده، نو پدې اړه ځیني پوښتني راسره وې، که چېرته زه هلته د محصلینو په منځ کې موجود وای، ضرور مې یې په اړه درڅخه پوښتل، چې آخر ستا په فکر د کوم پاکستاني وینه دومره قیمتي او ارزښتناکه ده؟!

د مسلمان پاکستاني او که د غیر مسلم پاکستاني؟

د شتمن پاکستاني او که د غریب پاکستاني؟

د دریشي او یونفورم اغوستونکي پاکستاني یا د عام ملکي پاکستاني؟

د پنجابي پاکستاني او که د بلوڅ او پښتون پاکستاني؟

د پوځ پلوه پاکستاني او که د پوځ مخالفه پاکستاني؟

له تقاعد څخه وروسته په هېواد کې د اوسېدونکي او یا هم فرانسې او استرالیا ته د تلونکي پاکستاني؟

د شناختي کارډ لرونکي پاکستاني او که د پوځي او استخباراتي ادارو لخوا د تصدیق شوي پاکستاني؟

د لال مسجد د وژل شوي پاکستاني یا د هغه پاکستاني چې د هغوی په مقابل کې وژل شوی وي؟

په نېروبي کې د وژل شوي پاکستاني او که د ریمنډیوس په لاس د وژل شوي پاکستاني؟! او هو...!

د ټي ټي پي سره د تړاؤ لرونکي پاکستاني وینه او که د بي ایل اې والا پاکستاني وینه؟!

نه پوهېږو، چې آخر د کوم قسم پاکستاني وینه دومره قیمتي او ارزښتناکه ده؟ زه خیر په راتلونکي کوم کنفرانس کې یې بیا په اړه خامخا وضاحت وکړئ، او ریښتیا بله خبره "اول پرې سوچ وکړه، بیا یې وزن کړه او بیا یې ووایه" قاعدې ته په کتو جواب ورکړه، هسې نه چې هغه ځواب بیا د دوه قومونو او ولسونو ترمنځ د لا ډېرو مشکلاتو او تنازعاتو لامل وګرځي.

جهاد د عزت لاره ده!!

ليکوال: مولوي سعيد

د اسلامي امت عزت نشته مګر په جهاد کې، تېر تاريخ کې چې کله په اسلامي امت کې د جهاد جذبه او شوق وو، د اسلامي امت عزت او ابرو هم پرځای وه، کفر د زوال او ماتې سره مخ و، د اسلامي امت د غازيانو اسونو د کفر ځمکې د پښو لاندې کولې او اسلامي نظام به يې ورباندې نافذولو، کفارو ته يوائې او يوائې درې انتخابه وو.

① د اسلام سپېڅلي دين ته غاړه کېښودل

(د توحيد کليمه ويل)

② اسلامي حکومت ته جزيه ورکول

③ او يا هم جنګ ته غاړه کېښودل

دا هر څه د جهاد برکات وو چې اسلامي امت ته يې د عزت تاج پر سر کړی و، د کفر سره به خبره په سوال او زارۍ نه بلکې د توري او نيزو په ژبه کېده. يقيناً ډېر د وياړونو دوران و، خو د کله نه چې امت د جهاد دغه مهمه فريضه پرېښوده، سستي ته يې مخه کړه، د دنيا په خوندونو او لذتونو کې اخته شول، کفار يې په ارامه پرېښودل چې ښه مست شي، نو هماغه و چې د مسلمانانو د غفلت او جهاد ته د شا کولو نه کفار کټه پورته کړه، ځانونه يې تيار کړل، اقتصادونه يې ورغول، پوځونه يې منظم کړل او د مسلمانانو پر خاورو، ابرو او عزت يې ستري ستري حملې وکړي.هغه د غازيانو امت چې د کفارو ښځې يې وينځې ګرځولې، د دوی پتمنې خويندې د کفارو په لاس په ابو غريب او باګرام کې زندانيانې شوې، هغه وحشتونه او فحشاوي ورسره وشوې چې قلم يې د ليکلو نه عاجز دی، تر هغه وخت دا ذلت زمونږ څخه نه پورته کېږي تر څو چې د اسلامي امت ځوانانو د جهاد فريضه خپل مسؤليت نه وي ګڼلی،

تاسې وګورئ د فلسطين مجاهدين چې ډېر کمزوري دي، اسباب يې د اسرائيلي يرغلګر دښمن په مقابل کې په نشت حساب دي، خو دا چې جهادي جذبه او روحيه لري نو يې د طوفان الاقصی په نوم مبارکو عملياتو سره د دښمن دبدبه د خاورو سره خاورې کړه.

اسرائيلي استخبارات چې په نړيواله کچه په زيرکتيا او غښتليتوب زښت زيات شهرت لري دا هر څه يې په صفر کې ضرب شول، داسې کامياب عمليات مجاهدينو ترسره کړل چې د دښمن استخبارات هيڅ پوه نشول چې څه وشول او څه رقم وشول. په سلګونو اسرائيليان غازيانو ونيول او زرګونه يې مردار کړل، دا دي همدا اوس يې د همغه نيول شويو په مقابل کې د دښمن د زندانونو لسګونه اسيراني خويندې او ورونه را آزاد کړل.

چې دي سره د اسرائيلو د پوځ ناکامي هم ټولې دنيا ته ښکاره شوه چې دوی ونکړای شول د جنګ له لارې خپل بنديان د غازيانو له پنجو آزاد کړي، ځکه چې دوی د حماس د اتلانو د کلک مقاومت سره مخ دي.

خلاصه دا چې دا هر څه د جهاد ثمرات دي دا لاره بايد کلکه کړو او هيڅکله وروسته ترېنه نه شو، بريا زمونږ ده. بإذن الله

(څلورمه برخه)

ليکوال: الشيخ انور العلوقي رحمه الله

ژباړه: ابو قتاده



په جهاد کې د ګډون او شريکېدو طريقې او شرعي حل لاره

١٠_ مجاهدينو ته روغتيايي مرستې رسول:

نن سبا مجاهدين تقريباً هر ډول طبي مرستو ته اړتيا لري او په جهاد کې هر وخت ډاکټر ته سخته اړتيا وي، کله وخت روغتونونو او کلينيکونو ته لاسرسی هم اړين وي، په ټول مسلمه امت کې په زرګونو ماهر ډاکټران شته، خو د افسوس خبره ده چې د مجاهدينو د ټپي کېدو په اړه مو داسې کيسې اورېدلي دي چې لېږ ژوبل شوی وي خو پر وخت د طبي مرستو او ډاکټرانو د نشتوالي له امله هغه زخمونه نور هم زيات شوي تردې چې له معمولي ټپونو د زياتېدو څخه بعض ملګري شهيدان شوي. نو په ځانګړې توګه هغه مسلمانان چې طبي علم يې ترلاسه کړی او ادعا کوي چې غواړي له دې علم څخه امت ته ګټه ورسوي، په غور سره واورئ چې زخمي مجاهدين دوی ته ناري وهي چې ته او ستا

علم چېرته دی؟

د چيچنيا د ستر او زړور عرب مشر سيف الاسلام خطاب په اړه ويل کېږي، چې يو ځل له روسانو سره په جګړه کې ټپي شو، خو په هغه وخت کې يې هيڅ مسلمان ډاکټر ونه موند، چې علاج يې وکړي، نو مجاهدينو هغه د سره صليب مرکز ته يوړو او هلته يې د ټوپک په زور په کافرو ډاکټرانو د خپل کماندر علاج وکړ، د دې تر څنګ د درملو او نورو طبي اړتياوو برابرول هم اړين دي. هر مسلمان چې په دې ميدان کې وي بايد را وړاندې شي او خپل مسؤليت ترسره کړي ځکه چې په دې ډګر کې د مجاهدينو سره مرسته کول خورا اړين دي او تاسو باور ولرئ چې که تاسو د مجاهدينو پاملرنه يواځې د الله سبحانه وتعالی د رضا لپاره کوئ. نو د لوی اجر مستحق به ياست او ليرې نه ده، چې الله به تاسو ته د دې مجاهد د جهاد

په اندازه او یا تر دې هم زیات اجر درکړي.

۱۱_ مجاهدین هڅول او هغوی ته داډ ورکول:

کله چې مجاهدین واوري چې علماء د جهاد په حق کې دي، په جوماتونو کې د هغوی لپاره دعاوې کېږي او د مسلمانانو اکثریت د هغوی درناوی کوي، دا کار مجاهدینو ته حوصلې ورکوي او په جهاد کې د هغوی قدمونه پیاوړي کوي. خو برعکس کله چې مجاهدین ووینې چې علماء د دوی پر ضد دي، د جوماتونو امامان له جهاد څخه کرکه لري او د مسلمانانو اکثریت ته درواغ ویل شوي وي، نو موږ فکر هم نه شو کولای چې د دې غدار د غدارۍ له امله مجاهدینو ته څومره درد او تکلیف رسېږي.

حضرت ابوبکر صدیق رضي اللّٰه تعالی عنه هم د خلیفه کېدو وروسته د حضرت اسامه رضي اللّٰه تعالی عنه په مشرۍ د مجاهدینو لومړۍ لښکر واستاوه او د هغوی د تشویق لپاره یې پخپله پیاده د مدینې وروستۍ هستوګنځي او باندې ته ورساوه، نو تاسو هم باید په هره ممکنه طریقه مجاهدین وهڅوئ او پرې نږدئ چې د هغوی عزت کم شي.

۱۲_ د مجاهدینو دفاع او د هغوی په حق کې خبرې کول:

رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم فرمایلي دي: څوک چې د مسلمان ورور د عزت ساتنه وکړي، اللّٰه سبحانه وتعالی به د قیامت په ورځ د هغه مخ د جهنم له اور څخه وساتي.

(ترمذي) رسول اللّٰه دا هم فرمایلي چې څوک د مصیبت په وخت کې د یو مسلمان سره مرسته ونه کړي، په ځانګړې توګه کله چې د هغه عزت لوټلی شي. او د هغه په پاکوالي خبره کېږي، نو اللّٰه تعالی به د داسې کس سره مرسته ونه کړي کله چې هغه پخپله مرستې ته اړتیا ولري. او څوک چې د یو مسلمان سره په داسې حال کې مرسته وکړي چې د هغه عزت خرابېږي او د هغه د پاکوالي خبره کېږي، نو اللّٰه تعالی به د هغه سره په داسې وخت کې مرسته وکړي چې مرستې ته اړتیا ولري.(ابو داؤد)

نو له همدې امله دا زموږ اسلامي دنده او وجیبه ده چې د هغو کسانو دفاع وکړو چې د اسلام او د دې ټول امت دفاع کوي، ځکه دا مهال ټول ژورنالیزم او نشراتي ارګانونه له حکومت سره په یوه ژبه د مجاهدینو په خلاف بې اساسه، دروغجن او ګمراه کوونکي خبرونه خپروي او امت ته دوکه ورکوي، په هره غونډه کې چې د مجاهدینو په اړه خبرې کېږي، باید د هغوی په دفاع او حق کې خبرې وکړو. او که دفاع وس نلرو نو باید غلي پاتې شو، کله کله زموږ په ژبه د اللّٰه په لاره کې د مجاهدینو د دفاع پر ځای د کفارو د دفاع خبرې کېږي. نو پکار ده چې نه یوازې په خپلو اعمالو کې بلکې په خپلو خبرو کې هم احتیاط وکړو، باید چې زموږ هیڅ یو عمل او خبره د اللّٰه تعالی دښمنانو ته ګټه ونه رسوي.



د حماس جهادي غورځنګ د تاریخ په پاڼو کې

لیکوال: محمد جاوید حنیف

انسانان فطرتاً داسې پیدا شوي دي چې خطاء کوونکي او د نافرمانۍ په پولو د وېرې له امله تجاوزکوي، لکه څنګه چې آدم علیه السلام او بي بي حوا د شیطان له لوري د منع شوې دانې په خوړلو سره د نافرمانۍ په درشل ودرول شول، د ټولو انسانانو د مور او پلار په خطاء کولو سره مونږ دې نتیجې ته رسېږو، چې انسانان خطاء کوونکي دي، بیا د دوی په اولاده کې د دوی یو زوی را پاڅېد او بل زوی یې قتل کړ، چې له دغې پېښې څخه وروسته بیا د باطلو ډلو د رامنځته کېدو زمینه برابره شوه.

همداسې د انسانانو د تېر شوي تاریخ په اوږدو کې به مو بېلابېلې پېښې او تاریخي واقعات تر سترګو شوي وي، چې دغه پېښې او واقعات په بېلابېلو شکلونو او ډولونو کې را څرګند شوي، لکه د حق او باطل ترمینځ جګړې، د ملکیتونو د لاسته راوړلو لپاره جګړې، د بادشاهۍ او تاج ترلاسه کولو لپاره جګړې، او یا د خپلو حقونو د ترلاسه کولو لپاره جګړه کول؛ دغه جګړې چې د بشر د ژوندانه سره یو ځای پیل شوي دي، د بشر په لاس د جرایمو د ترسره کېدو لپاره یو پیل و، همدا ډول د ظلمونو او جرمونو پر وړاندې د مظلوم حق د ترلاسه کولو لپاره یې د مبارزې سنګر هم رامنځته کړ.

راځو د اسلام تاریخ ته، هغه تاریخ چې د حق نعره پې د باطل پرستانو له زړه څخه را پورته شوه، دا هغه نعره او چیغه وه، چې د کفر د ظلم او وحشت د پای سبب شوه، دغې داعیې ته بلونکی شخصیت د اللّه تعالی یو نازولی استازی محمد مصطفی صلی اللّه علیه وسلم و، محمد مصطفی صلی اللّه علیه وسلم د انسانانو لپاره د هغه روښانه څراغ په څېر دی، چې تر اوسه او آن تر قیامته پورې به انسانان بالخصوص مسلمانان ورڅخه برخمن وي، له مکې څخه مدینې منورې ته د مسلمانانو هجرت او هلته له یهودو سره د مسلمانانو د ګاونډیتوب ژوند پیل شو، مسلمانان د مشرکینو له خوا د بېلابېلو مشکلاتو سره مخ وو، چې زیاتې جګړې او غزاګانې له مشرکینو سره ترسره شولې، خو یهودي ډلو بیا د خپل خباثت د پټ ساتلو لپاره له مسلمانانو سره د صلحې تړون لاسلیک کړ، چې د تړون تر شا یې د رسول اللّه صلی اللّه علیه وسلم پر وړاندې له مشرکینو سره لاسونه یو کړل، چې آن

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د شهید کولو توطیه يې هم پرکار اچولې وه، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوی له دسیسو څخه خبر شو، نو لومړی یې له مدینې منورې څخه او بیا یې له خیبر څخه د یهودو د شړلو فیصله وکړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات په وخت کې داسې وصیت وکړ، یهود د جزیرة العرب څخه وشړئ ځکه چې هغه پوهېده چې یهود نه یوازې د مسلمانانو بلکې د ټول بشریت په وړاندې یو خطر دی، بیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات څخه وروسته د مسلمانانو دویم خلیفه حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د خلافت په دوران کې د بیت المقدس له فتحې وروسته یهودیان په مکمل ډول له جزیرة العرب څخه وشړل شول، له هغه ډېره موده را وروسته تقریباً په ۱۹مه میلادي پېړۍ کې په اروپا کې د هیټلر په واسطه د اسراییلو زیات شمېر وژل کېدل د دې سبب شو، چې یو شمېر اسرایل امریکا او بیت المقدس ته د کډوالۍ لپاره ولاړ شي، کم شمېر یې په اروپا کې تیت او پرک شول، بیت المقدس ته دوی په داسې حال کې راستانه شول، چې د وخت له مسلمانانو څخه یې د دې غوښتنه کوله چې مونږ له هرې خوا څخه ناهیلي شوي یو نو تاسو مونږ ته نا امیده کوئ، مسلمانانو دوی ته د انساني خواخوږۍ په

اساس پناه ورکړه، اما د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه خبره یې هېره کړې وه، چې یهود په جزیرة العرب کې مه پرېږدئ، د دوی د دغې غلطۍ وروسته یهودو د وخت په تېرېدو سره د فلسطینیانو ځمکې غصب کړلې، د دوی لپاره د عثماني خلافت سقوط او د بریتانیا الخوا د مصر او شاوخوا سیمو اشغال د دې سبب شو، چې یهودي ډلې په سیمه کې وده وکړي، او دوی (اسرایل) د فلسطینیانو زیاتې سیمې اشغال کړي، او لا یې هم د اشغال سیمې زیاتېږي، چې پر وړاندې یې بېلابېل جهادي خوځښتونه رامنځته شول، چې مونږ یې دلته فقط د حماس یادونه کوو.

د حماس جهادي غورځنګ لنډه پېژندنه:

حماس چې مکمل نوم یې (حرکة المقاومة الاسلامیه) دی، د خپل موجودیت باقاعده اعلان د ۱۹۸۷م کال د دسمبر په ۱۵ نېټه وکړ، او د خپلې مبارزې هدف یې د فلسطین آزادي اعلان کړه، چې د شیخ احمد یاسین دیدات او د اخوان المسلمین د حزب د څو نورو پلویانو له لوري تاسیس شو، او د دغه نوم لاندې د فلسطین ساحه کې د اسرائیلي اشغالګرو په خلاف اعلان شو، د دې تر مخه هم د مقاومت ډلې وې، خو په دغه نوم نه وې، حماس غورځنګ د اسرائیلي اشغالګرو

په وراندې وسلواله مبارزه کوي، د حماس د فعالیت سیمه د غزې ترانګه ده، چې ۳۶۹ کیلو متر مربع مساحت لري، حماس په کمو امکاناتو مختلف قسم توغندۍ او الوتکې جوړې کړې، چې پرمختللي توغندۍ یې د عیاش ۲۵۰ په نوم دي، د حماس غورځنګ شعار له لمړۍ ورځې د فلسطین آزادي وه او د آزادۍ یا شهادت په موړال جنګیدل، تول سیمه کې یوازینی غورځنګ دی چې اسرائیل ترې ویره لري، د فلسطین له داخلي مسلمانانو جوړ او په فکري لحاظ د اخوان المسلمین تر اثر لاندې و.

د فلسطیني جهادي ډلو په منځ کې د حماس د جهادي غورځنګ اهمیت له هیچا نه پټ نه دی، حماس هغه جهادي حرکت دی چې د تاسیس کیدو سره سم یې د فتح یا شهادت په شعار عمل وکړ او دا دې تر نن ورځې د اسرائیلي اشغال ګرو پر ضد په وسله وال جهاد بوخت تنظیم دی، که څه هم د حماس په هکله په دجالي رسنیو کې ډول ډول پروپاګند او بې اساسه تبلیغات کیږي خو حقیقت دا دی چې دغه تنظیم د اسرائیلو د پرمختګ په لاره کې تر تولو ستر خنډ دی، په لاندې څو کرښو کې به د دې جهادي غورځنګ په هکله لنډ معلومات له تاسو سره شریک کړو.

د دې تنظیم جوړښت بېلابېلې مرحلې لري، خو دومره مهمه ده چې ووایو؛ د حماس په رامنځته کولو کې د اخوان المسلمین د مبارزینو ونډه ډېره مهمه وه، کله چې اخوان المسلمین د فلسطین په یافه، حیفه، بیت المقدس او غزه کې خپلې څانګې پرانستلې، نو د دغو تولو څانګو د همغږۍ او د فعالیتونو د لامنظم کولو لپاره د دوی ترمنځ د اتحاد ضرورت و، چې همدې نقطې ته په پام سره لومړنۍ دوه ورځنۍ غونډه د ۱۹۴۶م کال د مارچ په شپږویشتمه نېټه جوړه شوه، د دې غونډې ایجنډا (عنوان) د فعالیتونو همغږي کول او د یهودیانو پر وړاندې د مبارزې نظم او ډسپلین و، چې وروسته یې بیا ښې پایلې درلودې.

دوهمه غونډه بیا د ۱۹۴۷م کال د اکتوبر په میاشت کې په حیفه ښار کې جوړه شوه، په دې غونډه کې اخوان المسلمین اعلان وکړ چې زموږ حرکت د یهودیانو پرضد خپل تول شته وسایل استعمالوي، او د هر هغه چا سره همکاري ته چمتو یو چې د اسرائیلي نیواک پر ضد د دوی سره یو ځای کار کول غواړي، وروسته د اسرائیلو پرضد د اخوان المسلمین د غړو لخوا د فلسطیني ولس سره پراخې مرستې شروع شوې، اخواني مبارزینو به له مصر، اردن، عراق او سوریې نه فلسطیني سیمو ته سفرونه کول او هلته به یې په جهادي عملیاتو کې برخه اخیسته.

د حرکت المقاومة لاسلامیه (حماس) د تنظیم د جوړښت هڅې (۱۹۶۸ــــــ۱۹۸۰م):

وروسته له هغې چې د عربي هېوادنو کډو پوځونو د اسرائیلو پر وړاندې ماتې وخوړه، دا نو ۱۹۶۷ م کال و چې اسرائیلو د ګولان، سیناء او غزې په سیمو کې پراخ پرمختګ وکړ، سیمې یې لاندې کړې او فلسطیني ولس ته ډېرې ستونزې جوړې شوې، اخواني مبارزینو ته هم په فلسطین کې د فعالیتونو روان ساتل سخت شول، نو یې د اردن د سیند له غاړو په اسرائیلي عسکرو او دولتي تاسیساتو خپلو حملو ته زور ورکړ، اخواني مبارزینو خپل ډېرې فعالیتونه د شیخون له کیمپونو څخه ترسره کول، په همدغه وختونو کې د مختلفو خلیجي هېوادونو لکه مصر، عراق، سوریه، اردن، یمن څخه اخواني رضاکارانو په یاده مبارزه کې د برخې اخیستو په موخه د اردن د سیند غاړو ته ځانونه ورسول چېرته چې د اخواني مبارزینو مرکزونه موجود وو.

په ۱۹۸۷م کال د نومبر په میاشت کې د فلسطین د اسلامي تنظیم لخوا یې د خپل ښکاره فعالیت اعلان وکړ، دا اعلان د شهید شیخ احمد یاسین په مشرۍ کې وشو، د دې تنظیم ډېرۍ غړي فلسطیني ځوانان وو، خو د نورو عربي هېوادونو مسلمانو مبارزینو چې نږدې ټول یې اخوانیان وو، هم پکې برخه درلوده، دا نو هغه وخت و چې د الفتح تنظیم نه پرته په مصر کې بل کوم مهم او په سیاسي لحاظ مشهور تنظیم نه و، د حماس د جهادي غورځنګ جهادي فعالیتونه له همدې ځایه په ښکاره ډول د اسلامي مقاومت تر نامه لاندې شروع شول، د الفتح تنظیم سره د حماس مخالفت په دې ټکي کې و چې دغه وخت الفتح په مذاکراتو او د امن په کانفرانسونو باور درلود، وسله واله مبارزه یې ورسره نه منله خو حماس بالعکس داسې دریځ درلود چې ویل به یې: (موږ ته خپله آزادي مهمه ده، که هغه د سولې او مذاکراتو له لارې وي یا د وسله والې مبارزې له لارې، اسرائیل باید د فلسطین خپلواکي تسلیم کړي، خپل پرمختګ ودروي او ټولې هغه سیمې دې خوشې کړي چې له فلسطینیانو یې نیولې دي)

د حماس جهادي غورځنګ عقیده درلوده چې د فلسطین د آزادۍ لپاره باید د فلسطینیانو، عربو او عجمو اسلامي هېوادونو لخوا شریکه مبارزه وشي، اوس هم د حماس اسلامي جهادي غورځنګ په دې باورۍ دی چې د فلسطین د بشپړې ازادۍ لپاره باید ټول مسلمانان د خپل مسؤلیت سره سم د یهودیانو پرضد په مبارزه کې برخه واخلي.

د حماس جهادي غورځنګ سیاسي لیدلورۍ:

حماس غورځنګ فلسطین د مسلمانانو ملک بولي، یهودو ته د هیڅ حق قائل نه دی، د

دوی هڅه د اسرائیلي اشغالګرو د شړلو ده، سولې او موقت اوربند ته چمتو نه دي، د دوی مقاومت د اسرائیلو د وجود په وړاندې دی، اسرائلو ته د غربي صهیوني استعمار په سترګه ګوري، دوی د جهاد او مقاومت فکر لري، د اسرائیلو د شړلو او ایستلو یوازینی لاره جهاد بولي، کوم تړون چې د اوسلو په نوم په ۱۹۹۳م کال کې د عربو او اسرائیلو ترمېنځ شوی دی، هغه تړون ته ژمنتیا نه ښایي، هغه د مسلمانانو پر حق تېری او د اسرائیلو لپاره امتیاز بولي، حماس غورځنګ په دیني، ټولنیز او سیاسي شکل کې فعالیت لري، مختلفې مؤسسې په داخل د فلسطین او خارجي هېوادونو کې لري، د نړۍ د هېوادونو سره سیاسي اړیکې ساتي، خپل استازي ملکونو ته لېږي.

د حماس د جهادي غورځنګ د دریځ تشریح:

فلسطیني حرکت: په فلسطین کې باید د یهودیانو پر ضد د جهاد دیوه بله وسائل شي، او باید فلسطیني ولس ته داسې احساس ورکړل شي چې له جهاد پرته د ازادۍ لپاره بله هیڅ کومه ګټوره وسیله نشته، دا مبارزه دې تر هغه وخته پورې په شور او زور سره دوام ولري تر څو چې نور دوه حرکتونه رامنځته او خپل فعالیت شروع کړي.

عربي حرکت:

عرب هېوادونه باید د یهودیانو خطر درک کړي او د فلسطین موضوع ته په پوره اهمیت ورکولو سره خپل ټول وسائل په کار واچوي ترڅو فلسطین آزاد شي، عربي مشران باید هېره نه کړي چې د دوی او د یهودو ترمنځ یواځنی خنډ د فلسطیني ولس جهادي مبارزه ده، هر وخت چې فلسطیني ولس له جهاد نه لاس واخلي او یا خدای مه کړه مبارزه ناکامه شي نو بیا به عربي هېوادونه یو پر بل پسې د اسرائیلو لخوا اشغالېږي.

عجمي اسلامي حرکت:

عجمي اسلامي هېوادونه باید هیڅکله فلسطین له ځانه جدا ونه ګڼي، فلسطین که له یوې خوا د ډېرو پیغمبرانو د زېږېدا مبارکه ځمکه ده، له بلې خوا هلته د بیت المقدس او په دوهم قدم کې د مسلمان امت لپاره د دریم مهم مسجد (مسجد اقصی) موجودیت هغه څه دي چې باید عجمي مسلمانان یې د ازادۍ په لاره کې له هیڅ قسم قرباني څخه دریغ ونکړي.

د امن او سولې د مذاکراتو په هکله د حماس دریځ:

۱: د اسلامي مقاومت جبهه د امن د مذاکراتو مخالفت نه کوي، مګر داسې مذاکرات غواړي چې په پایله کې یې فلسطین ته بشپړه

ازادي او خپلواکـــي ورکــړل شـــي، يهوديـــان دې د فلســطينيانو پــر وړانــدې لــه هــر ډول ظلــم او ســتم نــه لاس واخلــي، پــه دوهــم صــورت کــې مــوږ تــه دا مذاکــرات د منلــو وړ نــه دي.

۲: اسـلامي مقاومـت جبهـه د فلسـطيني سياسـي تنظيمونـو او اسـرايیلو ترمنـځ شـویو تړونونـو تـه ځـان پابنـد نـه بولـي، ځکـه چـې د دې تړونونـو پـه نتيجـه کـې د فلسـطين د خپلواکـۍ حرکـت تـه سـخته صدمـه رسـېدلې او امتيـازات ټـول اسـرايیلو تـه ورکـړل شـوي دي.

۳: د کومـو نړيوالـو غونـډو پـه تـرڅ کـې چـې يهوديانـو تـه د فلسـطين پـه ځمکـو کـې د کورونـو او آباديـو د جوړولـو اجـازه ورکـړل شـوې ده، دا پرېکـړې هيڅکلـه مـوږ تـه د منلـو وړ نـه دي، ځکـه چـې دا پـه لـوی لاس د فلسـطين د خپلواکـۍ او د اسـلام پـر ضـد يـوه نړيوالـه کفـري دسيسـه ده.

د اسـلامي مقاومـت جبهـه پـه دې بـاور ده، چـې د فلسـطين د ازادۍ او خپلواکـۍ لـه اخيسـتو پرتـه هـر ډول غونـډې او تړونونـه چـې د اسـرائيلو او امريکايانـو سـره ترسـره کېـږي، بـې معنـا دي، او بايـد وخـت پـرې ضايـع نـه شـي، د اسـلامي مقاومـت جبهـه د فلسـطيني ولـس د هيلـو سـره سـم د فلسـطين د پـوره آزادۍ لپـاره پـه سياسـي او نظامـي دواړو برخـو کـې خپلـه مبـارزه روانـه سـاتي او هيڅکلـه بـه پخپلـو اسـلامي مقدسـاتو او د خپلـې خـاورې پـه ځمکنـۍ بشـپړتيا او هوايي تماميت له چا سره سودا نه کوي.

شهيد شيخ احمد ياسين:

شـهيد احمـد ياسـين پـه ۱۹۳۸ م کال کـې دې فاني نـړۍ تـه سـترګې وغړولـې، نومـوړی پـه داسـې وخـت کـې دې نـړۍ تـه راغـی چـې د فلسـطين خـاوره د بريتانوي اسـتعمار لخوا اشـغال شـوې وه، شـهيد شـيخ احمـد ياسـين لا تنکـی ځـوان و چـې د فلسـطين او فلسـطيني ولـس پـر وړانـدې يـې د انګريزانـو او نـورو کفـري نـړۍ د شـومو دسيسـو پـه هکلـه معلومـات درلـودل، لـه هماغـه وختـه يـې هڅـې پيـل کـړې تـر څـو فلسـطيني ولـس تـه لـه انګليسـي اسـتعمار څخـه آزادي واخلـي، شـهيد احمـد ياسـين پـه وړوکوالـي د يوې پېښـې لـه کبلـه پـه دواړو پښـو معـذور شـو، لـه هغـې وروسـته يـې دينـي درسـونو تـه مـلا وتړلـه، دينـي علـوم يـې د مصـر پـه مرکـز قاهـره کـې وويـل، قاهـره هغـه وخـت د اخـوان المسـلمين مرکـز ياداېـده، هغـه اخـوان المسـلمين چـې د عربـي نـړۍ ترټولـو لومړنـۍ علمـي او سياسـي حرکـت و.

شـهيد احمـد ياسـين پـه دې مفکـوره و چـې فلسـطين د ټـول اسـلامي امـت شـريکه ځمکـه ده، پـه دې معنـا چـې د مسـلمانانو د لومړنـۍ قبلـې د موجوديـت پـه سـبب دغـه ځمکـه د ټولو مسـلمانانو لپـاره د احتـرام وړ ځـای و، شـهيد احمـد ياسـين بـه ويـل، (دا ځمکـه د فلسـطيني ولـس پـه شـمول د ټـول اسـلامي امـت شـريکه

ځمکه ده، هیڅ یو عرب یا عجم حکمران دا حق نه لري چې پرسر یې له چا سره سودا وکړي) سره له دې د عربي هېوادونو او فلسطیني سیاسي حرکتونو سره یې اړیکې موجودی وې، مګر بیا یې هم د عربي هېوادونو او د الفتح د تنظیم برخلاف داسې شعار درلود، (تش په نامه امن او سوله، د امن لاره نه ده، او نه هم دغه موجوده امن د جهاد بدیل کېدای شي) همدغه کلک دریځ او اسلامي شعار و چې نوموړی یې د فلسطیني ولس لپاره په یو ستر جهادي مشر بدل کړ.

د حماس د جهادي غورځنګ مشري:

شهید احمد یاسین که له یوې خوا په پښو معذور و خو له بلې خوا یې نظر هم خورا کمزوری شوی و، په ډېر تیټ آواز به یې خبرې کولې، خو د دې هر څه سره سره هغه د فلسطینیانو لپاره د هیلو او ارزګانو مرکز او د یو ستر مشر حیثیت درلود چې د امن او مذاکراتو له مبهمو او بې پایلې هڅو څخه نور ستړي شوي وو، شیخ احمد یاسین ته ۱۹۸۷ م کال کې نړیوال شهرت ترلاسه شو، هغه وخت چې نوموړی د فلسطین د اسلامي حرکت (حماس) مشر وټاکل شو.
وروسته له هغې چې د فلسطیني اسلامي حرکت مشري ورغاړې شوه، په همدې وخت کې د فلسطیني ځوانانو یو لوی بهیر د دې حرکت پر لور ورمات شو، له هماغه وخته بیا تر ننه د حماس اسلامي غورځنګ په فلسطین کې تر ټولو لوی تنظیم دی، په کال ۱۹۸۹م کال کې یې هغه د هغو فلسطینیانو د وژلو امر صادر کړ چې اسرائیلو حکومت ته یې په فلسطیني خاوره کې جاسوسي کوله، په دې کار سره نوموړی د اسراییلو لخوا ونیول شو او په عمر بند محکوم شو، خو وروسته په کال ۱۹۹۷م کې دی د هغه دوه تنو اسرائیلیانو په بدل کې خوشې شو، چې په اردن کې د فلسطیني سیاسي مشرانو د وژلو په تور د فلسطین لخوا نیول شوي وو، خو د زندان دغه شپې او ورځې وې چې شهید احمد یاسین یې په نړیواله سطحه ډېر مشهور کړ، او په دې سره نوموړی د فلسطیني ولس لپاره د یو ستر جهادي مشر په توګه راڅرګند شو.
نوموړی په همدغه کلونو کې د اردن په هېواد کې د هغه شریک کانفرانس سره مخالفت څرګند کړ، چې د اسرائیلو، امریکا او الفتح تنظیم لخوا جوړ شوی و، هغه وخت د فلسطین لومړي وزیر محمود عباس، چې اوس د الفتح تنظیم مشر دی، په شریکه غونډه کې د مقاومت او وسله والې مبارزې پرضد غږ پورته کړ او په دې برخه کې یې د امریکا مشورې ومنلې، اسرائیلو له پیل څخه

د شهید احمد یاسین نه ډار کاوو او نوموړي ته به یې فلسطین بن لادن وایه.

شهید شیخ احمد یاسین په کال ۲۰۰۳م د سپتمبر په میاشت کې د یهودیانو په یو هوایي برید کې زخمي شو، خو په کال ۲۰۰۴ م کال د مارچ په ۲۲ نیټه د اسرائیلو په یو بل هوایي برید کې چې د یوې جنګې چورلکې لخوا د میزایل په واسطه ترسره شو، د شهادت لوړ مقام ته ورسېد، جنازه یې هملته په فلسطین کې واخیستل شوه، د جنازې د ګډونوالو شمېر یې تر ۲۰۰۰۰۰ تنو رسېده.

د شهید شیخ احمدیاسین د شهادت په اړه نړیوال غبرګونونه:

د دې ستر مجاهد په شهادت سره نړیوالو مختلف غبرګونونه درلودل، هغه وخت د ملګرو ملتونو سرمنشي کوفي عنان دا کار یو جنایت وباله او محکوم یې کړ، ملګرو ملتونو په دې هکله د اسرائیلو پرضد یو پرېکړه لیک هم منظور کړ چې د چین، روس، هندوستان، اندونیزیا، جنوبي افریقا او ۳۱ نورو هېوادونو لخوا یې ملاتړ وشو، خو دغه پرېکړه لیک د امریکا لخوا د فرانسې، بریتانیا او جرمني په ملاتړ ومنل شو.

د اسرائیلو د دفاع وزیر شاول موفاذ شهید احمد یاسین د فلسطین بن لادن وباله او په شهادت یې خوښي څرګنده کړه، و یې ویل: دا د اسرائیلو لپاره یوه لویه لاسته راوړنه ده، خو د حزب اختلاف مشر شمعون پیروز وویل: موږ ته معلومه نه وه چې د مشرانو په وژنې سره مقاومتونه ختمېږي نه، بلکې نور هم زور اخلي، دا زموږ یوه غلطه پرېکړه وه.

همدغه وخت په عراق کې د امریکا سفیر جان نیګروپونتي شهید شیخ احمد یاسین یو تروریست او خطرناک شخص وباله او د نوموړي شهادت د اسرائیلو سره خپله خوښي څرګنده کړه.

فلسطیني ولس د خپل دغه ستر قائد په شهادت درې ورځې ماتم اعلان کړ او د حماس د سیاسي برخې مشر اسماعیل هنیه وویل: شهید احمد یاسین د همدې ورځې په انتظار و، نوموړي به تل د شهادت ارزو کوله، د ده په شهادت سره ایریل شارون ځانته د جهنم دروازې خلاصې کړې.

د شهید احمد یاسین رحمه الله یوه تاریخي وینا:

(موږ یوه داسې لاره غوره کړې ده چې اخري منزل یې فتح یا شهادت دی)

شهید احمد یاسین به ویل:


اسرائیل به په ۲۰۲۵ م کال کې ان شاءالله له منځه ځي.

له شهید احمد یاسین رحمه الله نه وروسته

د حماس عمومي مشري الشيخ عبدالعزيز رنتيسي ته وسپارل شوه، خو ښاغلي رنتيسي هم په کال ۲۰۰۴ د اپريل د مياشتې په ۱۷ نيټه د يهوديانو په يو هوايي بريد کې په شهادت ورسېد. انا للّه و انا اليه راجعون د حماس جهادي غورځنګ اوسنی مشر اسماعيل هنيه دی، چې د اسرائيلو په خلاف د دوی جهادي مبارزه ښه په خوندور ډول مخې ته وړي.

د حماس د اوسني مشر يو څو خبرې: (که عربي هېوادونه مو د اسرايلو پر ضد ملاتړ نه کوي، څه خبره نه دی، خو د شاله خوا دې د خنجر ګوزارونه نه راباندې کوي، وايي چې هغه ورځ ليرې نه ده چې د اسرايلو ظالم رژيم ته ماتې ورکړو، نوموړي خبرداری ورکړی چې د اسرايلو سره به د ژوند تر وروستی سلګی مبارزه وکړي).

إن شاء اللّه تعالی



د امت شازلمي؛ له جنته تر جنتونو!

ليکوال: عزيز الدين مصنف

د خواږه تهذيب له خوږو څاڅکو څخه جوړ شوی دغه بهير په خپله غيږه کې داسې ګلان اوبه کوي چې حقانيت ته يې نړۍ ګوته په غاښ ده.

تر قيامته روان جهادي کاروان يوائې د زلميو په سپېڅلو قربانيو پايښت مومي، له الهي انوارو ډکې سينې د طاغوت په وراندې د حقې داعيې د دفاع لپاره لومړۍ ليکې جوړوي، د روحانيت باران په دنګو او مرمرينو ماڼيو نه اوري، بلکې د اللّٰه ﷻ د انوارو تجلا په هغو محلونو خپلې وزرې غوړوي چې د جهاد د مبارکو ترکيبونو مانۍ پکې ودانې وي.

اغزنې لارې، غرونه، سيندونه، طوفانونه، لوږه، تنده، پرهرونه او بله هره سخته د دې لارې خواږه بلل کېږي.

مجاهد د غزا په ميدان کې له جوړ شوي پرهر څخه خوند اخلي، له بدنه د وينو څڅېدل داسې کيف کوي ته واه چې د آب حيات څخه جامونه په سر اړوي.

کوچني مجاهدين لکه د سهار پرښې وهلي ګلان، د شهادت په تمه خپلې نازکې غوږونې د اللّٰه ﷻ د دين لپاره صدقه کوي، د معاذ او معوذ مجاهدين ورونه د حضرت عبدالرحمن رض له ارشاداتو الهام اخلي او د وخت د ابوجهل په اورمېږ لکه د قهرجنې وربځې ږلی نازلېږي.

ميندې په خپلو اولادونو وياړي، خويندې يې په ننګه چمبې وهي او پلرونه يې په ديار هسک ګرځي،

دا يوازېنۍ مينه چې کله د اللّٰه ﷻ په نور پخه شي بيا هيڅ مادي امتياز ته غاړه نه ږدي، تر هغو چې د عشق له شمعې دود او سپېلنۍ نه شي تر هغو په لمبو کې خوښ او خوشحاله وي.

د دې لارې ملګري دومره سره خواږه وي ته واه چې يو روح په دوو وجودونو کې ګرځي راګرځي، مشران يې عمري رعب لري، هيبتناکه څېرې او ځيږ طبيعتونه، دا هغه څه دي چې يوازې د سنګر په قاموس کې يې مفهوم ارايه کېدلای شي. بس و فقط

د پاکستان په خاوره د مقدس جهاد ستړي غازي ته!

ليکوال: مهاجر شاکر داوړ

ستا ملنګې څهرې، ستا سرو بې خوبه سترګو او غوڅو شونډو، ستا کورکوټې څنو او ستا لوړې نښترې ځوانۍ او ميرانې او پر غلامو افواجو ستا دردناکو او زړه بوږنونکو کوزارونو په شاهي ماڼيو کې ناست طواغيت په ذهني ناروغيو اړولي دي. د يو پر مختللي هېواد پرمختلليو ټکنالوژيو، پوځونو او نوموتو استخباراتي ونشواى کولاى چې تا له خپل مقدس لوري را وګرځوي.

دا په ورځو ورځو تر ملا ترلې وچه دودى، بوټل اوبه او تر سهاره مزلونه. هو؛ په همدې ګزاره کوه. تا ته د امت مسلمه د مظلومو خويندو اوښکې او چيغې د خپلې مور، خويندو او بچيانو له اوښکو غوره ښکاره شوې، د خپلو بچيانو محبت اړ نکړې چې د مرک له بيدياوو را تم شې.

مطمئن اوسه! ستا د قربانيو عوض به د کړيدلي امت آزادي وي، چې واکې به يې ستا په مبارکو لاسو کې وي.

لار دې خواره، پاکه او سپېڅلې ده، خو په سختو او ډول ډول ازمايښتونو اوبدل شوې ده. نفس او عقيده دې په تقوا باندې قوي کړه، د دنيا رنګينۍ، سهولتونه، خواهشات او د نړېوالو فشارونه دې له خپل پاک او مقدس دريځ نه شاته نکړي.

ته د اوسني عصر هغه غازي يې چې د پرځېدلي امت هيلې يواځې تا ته پاتې دي.

ځکه يوازې ته وې او يې چې هم علمي نظريه او عقيده لرې او هم دې عملاً ثابته کړې ده.

پاڅه! پياورى باور درسره واخله!

پاڅه! يو آزاد او خپلواک خيال شه!

وکرځه! وکرځه! غرونه، دښتې، کلي، ښارونه په واک کې واخله!

زندانونه دړې وړې کړه، د وطنيت او قوميت باطل ازغن او کرغېړن سرحدات وشلوه!

سوچه اسلامي نظام نافذ کړه!

حدود جاري کړه!

عرب او عجم د امت تمام مجاهدين د ټولو نړېوالو په مخ کې په خپله ستړې غېږه کې ونيسه!

دا د سياست په نوم ډرامه چې نن يې د جهاد رهبران په لاس او پښو ترلي، دا لکه د فلم صحنه په خپل ذهن کې د ډيليټ فولډر ته واچوه!

ترڅو بدماشو کفارو ته ووايو، چې موږ مسلمانان يو، مونږ هغه امت يو چې په شپيتو نفرو مو د شپيتو زرو مقابله کوله ترڅو وښايو چې اخوت او مسلماني داسې وي.

دا په ياد ولره!

نن چې کومې لوړې تندې تېروې، کومې سختې شپې ورځې دې په مخه کړي.

کومې اوږدې فاصلې وهې، د مور او پلار اولادونو جدايي زغمې.

قسماقسم زورونکې نا بلکې وژونکې حادثې زغم کوې.

دا ټول فشارونه له هغو فشارونو نه چې سبا تا واک حاصل کړي وي او د نفاذ شريعت په وجه د نړۍ لخوا دربانده راځي، نه دي سخت.

همدا نن داسې بې پروا او باغي اوسه ترڅو سبا په جګو سترګو خپل خوږمن امت په غېږ کې واخلې او زخمونه ورته ښکل کړې.

پاڅېږه، روان شه، يون پيل کړه، موږ دې تر شا روان يو، تر هغې چې يا مو په اسلام آباد او مظلومې اقصى سپين بيرغونه نه وي رپاند کړي او يا مو د شهادت جامونه په سر نه وي اړولي. بإذن اللّٰه



خارجي او افراطي فکر او جهادي تحریکات

لیکوال: مولوي احمد جان

ن سبا بعضي خلک چې تکفیري او خارجي مزاج لري، په معمولي احتمال سړی کافر کوي، او کوښښ کوي چې د خپلو مخالفینو تکفیر ته لاره پیدا کړي، اګرکه په کمزورو دلایلو هم وي، او حال دا دی چې د تکفیر موضوع ډېره خطرناکه ده، پداسې حال کې چې سلف صالحینو د تکفیر په موضوع کې ډېر احتیاط کړی او حتی الوسع کوښښ به یې کاوو، چې د یو مسلمان تکفیر ونشي، اګرکه د عدم تکفیر دلیل او وجه ضعیفه هم وي، بلکې که د عدم تکفیر فقط احتمال وي بیا هم هغه ته ترجیح ورکوي. (د دې خبرې مدلّل او مفصل وضاحت وروسته را روان دی).

معاصر جهاد ته د تکفیري عناصرو په وجه ناقابل تلافي (نه جبرانېدونکی) نقصان ورسېد، د جهاد او مجاهدینو په نوم د عامه مسلمانانو، علماء کرامو او مجاهدینو پاکې او سپېڅلي وینې توی شوې، د مجاهدینو صفونه د افتراق او انتشار ښکار شول، او داسې غیر شرعي یا مشکوکې کړنې او پېښې مخې ته راغلې چې جهادي دعوت او خوځښتونو ته یې ناقابل تلافي نقصان ورساوو، د مجاهدینو دعوت او حیثیت یې په مسلمانانو اولسونو او قومونو کې مشکوک کړ، او د جهادي تحریکاتو مخالفینو او طواغیتو ته یې د داسې پراپېګنډې (پروپاګند او منفي تبلیغاتو) موقع او دلائل په لاس ورکړل، چې اوس یې هیڅ تدارک نه کېږي، د دې هرڅه ترشا تکفیري عناصر او د هغوی باطل او غیر سني فکر و، چې د جهادي تحریکاتو مخې ته رکاوټ (خنډ) او مانع و، چې په خپل محاذ باندې مناسب شرعي جهادي سیاست او پالیسي تشکیل کړي، او بل دا چې د دې په نتیجه کې په بعضي محاذونو باندې کټلی جنګ په شکست بدل شو، او بعضي محاذونه د نهایت ضعف سره مخ شول، او ډېره لویه او تاریخي قرباني په دنیوي اعتبار سره ضائع شوه، او د امت کافي تعداد ځوانان چې د ابتلاء او قربانۍ میدان ته راوتلي وو، د خارجي

او تکفیري عناصرو په لاس يرغمال شول او په عالمي (نړیوال) جهاد کې دخوارجو یوه لویه جبهه وجود ته راغله چې په ټولو جهادي محاذونو باندې يې هم د مجاهدینو خلاف او هم د علماء کرامو او عامه مسلمانانو خلاف سنګر ونیو، او پرته له کوم توپیر يې د دې ټولو خلاف د جهاد په نوم باندې عملیات روان کړل، چې لا تر اوسه يې دغه باطله او وحشي لړۍ روانه ده، او په عامو مسلمانانو اولسونو او قومونو کې جهادي دعوت او تحریکاتو ته ډېر زیات معنوي، مالي او ځاني نقصان رسوي، د دې بنیادي وجه همدا وه چې د یولسم ستمبر د عملیاتو څخه وروسته په جهادي ادبیاتو، ابلاغي موادو او نشراتو کې د ولاء او براء، مظاهرة على المسلمين، موالاتو او یا نورو موضوعاتو په حوالې سره د نیمګړو تکفیري عناصرو او ملایانو مقالې، لیکنې او رسائل نشر کېدل، چې بالاخره یوه مستقله تکفیري جبهه ترېنه وجود ته راغله، اوس هم په جهادي صفونو کې شاملو علماء کرامو او مشائخ عظامو ته پکار ده چې د اهل السنت و الجماعت د امامانو او د سلفو صالحینو د منهج، مشرب او مزاج ته په کتو د دغه موضوعاتو ښه تحقیق وکړي، او مجاهدین او جهادي تحریکات د دغه افکارو او عناصرو څخه بچ کړي، ځکه د الله تعالی د نصرت وعده د اهل السنت والجماعت سره ده، کله چې هم د اهل السنت والجماعت د مسلک، مشرب او مزاج څخه انحراف راغلی، نو ناقابل تلافي (نه جبرانېدونکی) نقصان او زیان منځته راغلی، بلکې قوي قوي تحریکات د دې په وجه ختم شوي دي.

علامة شامي رحمه الله فرمايي: لاينبغي للعالم ان يبادر بتكفير اهل الاسلام.

ژباړه: عالم لره په کار نه دي، چې د مسلمانانو تکفیر ته تلوار وکړي.

(حاشية ابن عابدين، جلد: ۶، صفحه: ۲۳۰)

علامه ابن همام رحمه الله فرمايي: يقع في كلام اهل المذهب تكفير كثير ولكنه ليس من كلام الفقهاء الذين هم المجتهدون بل من غيرهم ولا عبره بغير الفقهاء.

ژباره: د ډېرو احنافو په کلام کې تکفیر ډېر واقع کېږي، لیکن دا د فقهاوو کلام نه دی ځکه هغوی مجتهدین دي او د فقهاوو نه علاوه د بل چا خبرو ته اعتبار نشته. (

فتح القدير، جلد: ۶، صفحه: ۱۰۰)

ابن الجزي المالكي رحمه الله فرمايي: د کفر کوم الفاظ چې په نصوصو کې راغلي، نو د هغو مختلف احکام دي، فرمايي چې: فمنها ماهو كفر ومنها ماهو دون الكفر ومنها مايجب فيه القتل ومنها مايجب فيه الادب ومنها مالايجب فيه شيئ.

ژباړه: بعضې کفر وي، بعضې د کفر څخه لاندې وي، په بعضو کې قتل واجبېږي، په بعضو کې ادب واجبېږي او په بعضو کې هيڅ هم نه واجبېږي. او بیا وایي چې د دې پوره تفصیل قاضي عیاض رحمه الله په الشفاء کې بیان کړی دی. (القوانين الفقهية

لابن الجزي رحمه اللّه، صفحه:۲۴۰)
دغه شان شیعه ګان هم د دغه موجوده باطلو عقائدو سره د سلفو په دور کې وجود نه راغلي وو، خو د شیعه ګانو هم سلفو على الاطلاق تکفیر نه دی کړی، بلکې په عقائدو یې فتواګانې لګولي دي.
دغه شان خوارج چې د ټولو نه اوله ګمراه فرقه وجود ته راغله او ځان یې اسلام ته منسوبولو، او په هغه وخت کې د موجودو ټولو صحابه کرامو رضي اللّه تعالى عنهم (یانې د علي رضی اللّه عنه او د هغه د ملګرو او د معاویه رضي اللّه عنه او د هغه د ملګرو) تکفیر یې وکړ، او حال دا دی چې دې کې بعضي هغه صحابه کرام هم موجود وو چې په عشره مبشره ؤ کې شامل وو، یانې نبي علیه السلام ورته په ژوند کې د جنت زیري ورکړي وو، خو بدبختانه خوارجو بیا هم د دغه نفوس قدسیه ؤ تکفیر وکړ، خو سلفو (صحابه کرامو او بیا وروستنیو تابعینو او تبع تابعینو) د دغه خوارجو تکفیر نه دی کړی، البته ګمراه یې ورته ویلي دي، په دې وجه علامه شاطبي رحمه اللّه د خپل کتاب «الاعتصام» د ۲ جلد په ۲۱مه صفحه کې فرمایي: وقد اختلف الأمة في تکفیر هؤلاء الفرق أصحاب البدع العظمى، ولکن الذي یقوي في النظر ویحسب في الأثر عدم القطع بتکفیرهم، والدلیل علیه عمل السلف الصالح فیهم.
ژباړه: هغه فِرقِ ضاله (ګمراهې ډلې) چې د غټو بدعاتو والا دي (یعنې بدعات یې مُکَفِّره دي) لکه مرجئه، معتزله، روافض، جهمیه، قدریه او خوارج وغیره) د دوی د تکفیر په باره کې په امت کې اختلاف دی، لیکن قوي خبره دا ده، چې سلف صالحینو د دوی تکفیر نه دی کړی.
په دې وجه علامه نووي رحمه اللّه په خپله شرح د مسلم کې فرمایي: ولا یکفر أهل الهواء والبدع. (جلد:۱، صفحه:۱۵۰)
ژباړه: د اهل الهواء والبدع (د خوهاشاتو او بدعاتو د څښتنانو) تکفیر نشي کېدای، او مراد د اهل البدع نه د سلفو په نیز خوارج، معتزله، قدریه، روافض او نورې فرقې دي، چې د دوی عقائد کفریه دي، لیکن د تاویلاتو په وجه یې د دوی تکفیر نه دی کړی.
دغه شان دا د اهل السنت والجماعت د اصولو څخه ده، چې کله په فعل محتمل کې احتمال د عدم تکفیر اولی ګڼي او فرق ضاله کله کله سړی په شکوکو شبهاتو او احتمالاتو او تاویلات او ظنیاتو سر کافر کوي.
د امام بخاري رحمه اللّه قول: امام بخاري رحمه اللّه فرمایي: باب من صلى قدامه تنور او نار او شئ مما یعبد فاراد بها اللّه.
یانې چې یو سړی لمونځ کوي او مخې ته یې اور، بُت، قبر او یا بل څه وي، نو لمونځ یې کېږي او په دې نه کافر کېږي، تر هغه چې له نومورې څخه د دې معلومات نه وي شوي چې د ده مقصد لمونځ د اللّه جل جلاله لپاره دی او که نه د دغه مخلوق عبادت.

الصلاة جائزة إلى كل شيء إذا لم يقصد الصلاة إليه وقصد بها اللّٰه تعالى، والسجود لوجهه خالصًا، ولايضره استقبال شيء من المعبودات وغيرها كما لم يضر الرسول ما رآه فى قبلته من النار. (شرح صحيح البخاري لابن بطال المتوفي: ٤٤٩)

یانې هر شي ته لمونځ جائز دی، کله چې مقصد دغه شي ته لمونځ نه وي، بلکې مقصد اللّٰه وي، یانې مقصد اللّٰه ته لمونځ وي، یانې د مقصد د اللّٰه جل جلاله عبادت وي، او سجده خالص د اللّٰه جل جلاله لپاره وي، که هدف همدا وي نو که چېرته په لمانځه کې نورو باطلو معبودانو ته مخ شي، دا لمونځ کوونکي ته زیان او تاوان نه رسوي، لکه څنګه چې رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم ته ضرر نه وو رسولی، هغه اور چې د نبي علیه السلام د لمانځه په وخت کې به د نبي علیه السلام نه د قبلې لوري ته وو.

د امام مالک رحمه اللّٰه قول:

امام مالک رحمه اللّٰه د خپل کتاب «فقه السنة» د دوهم جلد په ۲۴۳مه صفحه کې فرمايي: متى يكون المسلم مرتدا، ان المسلم لايعتبر خارجا عن الاسلام ولايحكم عليه باا لرد الا اذا انشرح صدر باالكفر واِطمأن قلبه به و دخل فيه باالفعل لقول اللّٰه تعالى ولكن من شرح باالكفر صدرا ويقول الرسول انما الاعمال باالنيات وانما لكل امرئ مانوى، ولما كان ما فى القلب غيبا من الغيوب التى لايعلمها الا اللّٰه كان لابد من صدور مايدل على كفر دلالة قطعية لاتحتمل التاويل، حتى نسب الى الامام مالک انه قال من صدرعنه ما يحتمل الكفر من تسعة وتسعين وجا ويحتمل وجا ويحتمل الايمان من وجه حمل امر على الايمان.

ژباړه: مسلمان کله مرتد کېږي؟ یقیناً مسلمان د اسلام څخه نه خارجېږي او د ارتداد حکم پرې نه کېږي، مګر کله یې چې سینې ته کفر ښکته شي، او زړه یې په کفر مطمئن شي، او په کفر کښې عملاً داخل وي، ځکه اللّٰه تعالی فرمايي: لیکن هغه څوک چې خلاصه کړي سینه کفر ته، او رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم فرمايي چې د ټولو اعمالو دار و مدار په نیت دی او یقیناً د هر سړي لپاره هغه څه دي چې نیت یې کړی وي.

دا چې د زړه خبرې له غیبو او پټو امورو څخه دي چې د اللّٰه تعالی نه ماسېوا نور څوک پرې نه پوهېږي، نو بیا ضروري او لازمي ده چې له ده څخه داسې څه صادر شي چې هغه د ده په کفر قطعي دلالت کوي او د تاویل احتمال پکې موجود نه وي.

تر دې چې امام مالک رحمه اللّٰه ته دا خبره منسوبه ده، چې له چا څخه داسې څه صادر شي چې په هغه کې د کفر احتمال وي په یو کم سل طریقو، او د ایمان احتمال پکې وي په یوه طریقه، نو دا به په ایمان حملولای شي.

ادامه لري

د انقلاب وږمې

د انقلاب ترخه وختونه په خندا تېروه
ګله مُسکی ګرځه دردونه په خندا تېروه

له وچو شونډو دې قربان شمه ګلابه یاره
اخر به تېر شي دا غمونه په خندا تېروه

دا امتحان دی کله څنګه کله څنګه ژوندون
تر خپل منزله کړاونه په خندا تېروه

اغزنه لاره ده پکې ډېر ډېر تکلیفونه شته دي
بې اجره نه دي تکلیفونه په خندا تېروه

تل ښکولوه په نیت د اجر په لاسو کې زنځیر
د چا له قصده زندانونه په خندا تېروه

د دې حالاتو هر ګزار لکه د زهرو ګوټ دی
په حوصله دغه ګوټونه په خندا تېروه

د پېښو تناکې به هاشم په منزل کې شمارو
ستړی سفر دی زحمتونه په خندا تېروه

هاشم سادات

د انقلاب ورمې

په سکروټو کړي مزل، ملګري دورمي
رسوي ځان تر منزل، ملګري دورمي

عجيبه قوي ايمان اللّه ورکړی
مخامخ ويني اجل، ملګري دورمي

ستا په دين کوي ننګونه څو ځلمي دي
پاکه ربه ته يې مل، ملګري دورمي

يو ديدن ته به دي ځان ټوټې ټوټې کړي
ستا رضا ته کړي تکل، ملګري دورمي

دوي کامياب شول په بيلتون يې مونږ خفه شو
استشهاد ته څه اتل ملګري دورمي

د شعرو دي مينه وال دي منتظره
ورته وواية غزل، ملګري دورمي

منتظر

د انقلاب وږمې

لاړې سنګينې سفر مخې ته ورم
د پاکې مينې سفر مخې ته ورم

ملا مې تړلې ده د هند غزا ته
ځه وينې وينې سفر مخې ته ورم

له پرهرونو نه مې وينې څاڅي
جامې رنګينې سفر مخې ته ورم

سپېڅلې مينې له تا زار مو کړلې
ځوانی حسينې سفر مخې ته ورم

بيا به ليدل مو سره وشي کنه
په ما مئينې سفر مخې ته ورم

له تکليف ډک ستا په خاطر ازادی
راشه شيرينې سفر مخې ته ورم

شهيد په دين يم او جنډې په مزار
رپاندې سپينې سفر مخې ته ورم

له غزالي وزير به پاتې درته
کرښې زرينې سفر مخې ته ورم

غزالي وزير



د روان (۲۰۲۴م) کال د جنورۍ (محرم الحرام – رجب المرجب) په میاشت کې د تحریک طالبان پاکستان د بریدونو تفصیلي راپور!

جنورۍ

د تحریک طالبان پاکستان اتلو مجاهدینو د روان ۲۰۲۴م کال د جنورۍ (محرم الحرام – رجب المرجب) په میاشت کې په اجیرو امنیتي او پوځي ادارو باندې ټولټال ۷۸ بریدونه ترسره کړي، چې په ترځ کې ۱۶۰ تنه امنیتي کارمندانو او پوځي منسوبینو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. د بریدونو تفصیل په لاندې ډول دی

۰۱/ جنوري/ ۲۰۲٤م

د پېښور ولایت د خېبر ایجنسۍ د جمرود ولسوالۍ اړوند د جمعه خان خوړ په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د پولیسو په یوې پوستې په د لېزري وسلو په مټ برید ترسره شو، چې په ترځ کې یې یو تن اجیر پولیس ووژل شو.

۰۲/ جنوري/ ۲۰۲٤م

د ډېره اسماعیل خان ولایت د کومل ولسوالۍ د مانجي په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان اتلو مجاهدینو د ناپاک پوځ په یوې قرارګاه د درازکوف په مټ برید ترسره کړ، چې په ترځ کې یې یو تن اجیر پوځي ځای په ځای ووژل شو.

د ډېره اسماعیل خان ولایت په کومل ولسوالۍ کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د ناپاک پوځ په یوې قرارګاه د جي ایل ځو مرمۍ وتوغول شوې، یادې مرمۍ چې د قرارګاه په منځ کې ولګیدې، په ترځ کې یې دښمن ته درانه مالي او ځاني تلفات واړول خو کره شمېر یې ندی ترلاسه شوی.

۰٤/ جنوري/ ۲۰۲٤م

د بنو ولایت د شمالي وزیرستان د رزمک ولسوالۍ اړوند د ناول ژۍ په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د ناپاک پوځ په پیاده ګزمې د ځمکني ماین په مټ چاودنه ترسره شوه، چې په ترځ کې یې دوه تنه اجیر پوځیان ځای په ځای ووژل شول.

د بنو ولایت د مرکز بنو اړوند د منډان په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د پولیسو په تانې (حوزې) د لېزري وسلو په مټ برید ترسره شو، چې په ترځ کې یې یو تن اجیر پولیس ووژل شو او همداراز د دښمن یوه څارونکې کمره هم تخریب شوه.

۰۵/ جنوري/ ۲۰۲٤م

د بلوچستان صوبې د مرکزي ښار کویټې د زرغون آباد تانې اړوند عبدالخالق روډ ته څېرمه د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د پولیسو د سب انسپکټر په موټر غلچکی برید ترسره شو، چې په ترځ کې یې یاد انسپکټر مرګوني ټپي شو.

۰۷/ جنوري/ ۲۰۲٤م

د بنو ولایت د جاني خیلو ولسوالۍ اړوند د ممېتن خېلو په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان اتلو مجاهدینو د ناپاک پوځ په ګزمې د ځمکني ماین په مټ چاودنه ترسره کړه، چې په ترځ کې یې دوه تنه اجیر پوځیان ځای په ځای ووژل شول.

د ډېره اسماعیل خان ولایت د درابن ولسوالۍ اړوند د زېړکني په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د ناپاک پوځ په هغه قطار بریالی کمین ووهل شو، چې غوښتل یې په مجاهدینو چاپه واچوي، چې په ترځ کې یې ګڼ شمېر اجیر پوځیان ټپیان او ووژل شول او همداراز د دښمن یو موټر هم په بشپړ ډول تخریب شو.

۰۸/ جنوري/ ۲۰۲٤م

د ملاکنډ ولایت د باجوړ ایجنسۍ د ماموند ولسوالۍ د بیلوټ په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د ناپاک د پولیسو په یوې لارۍ ډوله موټر د ځمکني ماین په مټ چاودنه ترسره شوه، چې په ترځ کې شپږ تنه اجیر پولیس ووژل شول او لس نور یې ټپیان شول.

د بنو ولایت د شمالي وزیرستان د میرعلي ولسوالۍ په بای پاس سرک باندې د تحریک طالبان پاکستان اتلو مجاهدینو د ناپاک پوځ په قطار باندې بریالی کمین وواهه، چې په پایله کې دوه تنه اجیر پوځیان ځای په ځای ووژل شول او یو بل یې مرګونی ټپي شو.

۰۹/ جنوري/ ۲۰۲٤م

د بلوچستان صوبې د ضلع قلعه عبداللّٰه اړوند د جنګل پیر علیزي په سیمه کې د لیویز عسکرو په تانې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري برید ترسره شو، چې په ترځ کې یې د لیویز یو عسکر مرګونی ټپي شو.

د بنو ولایت د مرکز بنو اړوند د منډان په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري په

پولیسو باندې برید ترسره شو، چې په ترڅ کې يې دوه تنه اجیر پولیس ټپیان شول.

د بنو ولایت د مرکز بنو اړوند د منډان په سیمه کې د پوځي عملیاتو پرمهال د اجیرو امنيتي ځواکونو او مجاهدينو ترمنځ سخته جګړه ترسره شوه، چې په پايله کې يې د يو افسر په شمول څلور تنه اجیر عسکر ووژل شول او درې نور يې مرګوني ټپیان شول. په یاده نښته کې زموږ دوه تنه مجاهدين ملګري هم د شهادت لوړ مقام ته ورسېدل. نحسبهم كذالک واللّٰه حسيبهم

د کوهاټ ولایت د مرکز کوهاټ اړوند په انډس شاهراه (لويې لارې) پرتې ټال پلازې ته څېرمه د پولیسو په پوستې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدينو له لوري برید ترسره شو، چې په ترڅ کې يې پنځه تنه اجير پولیس ووژل شول او اسلحې يې مجاهدينو د غنيمت په توګه ترلاسه کړې.

د کوهاټ ولایت د مرکز کوهاټ اړوند په انډس شاهراه پرتې ټال پلازې ته څېرمه د پولیسو پوستې ته په راتلونکي اکمالاتي کاروان برید ترسره شو، چې په ترڅ کې يې دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته خو کره شمېر يې ندی ترلاسه شوی.

۱۰/ جنوري/ ۲۰۲٤م
د بنو ولایت د لکي مروت ولسوالۍ د میانوالي په عمومي سړک د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدينو له لوري د ناپاک پوځ په لوی قطار بريالی کمين ووهل شو، چې په ترڅ کې يې لږترلږه دولس تنه اجير پوځيان ځای په ځای ووژل شول او ګڼ شمېر نور يې مرګوني ټپیان شول. د وژل شويو پوځيانو د جسدونو د لېږدولو لپاره سيمې ته دوه هلي کوپترې او پنځه ایمبولسونه هم راغلي وو. په یاده تندریزه معرکه کې زموږ دوه تنه مجاهدين ملګري هم د شهادت لوړ مقام ته ورسېدل. نحسبهم كذالک واللّٰه حسيبهم

د بنو ولایت د لکي مروت ولسوالۍ د تاجوړي په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان اتلو مجاهدينو د ناپاک پوځ په يوې پوستې د لېزري وسلو په مټ برید ترسره کړ، چې په ترڅ کې يې يو تن اجير پوځي مړ او يو يې مرګونی ټپي شو، همداراز د دښمن يوه څارونکې امنيتي کمره هم تخريب شوه.

۱۱/ جنوري/ ۲۰۲٤م
د ډېره اسماعيل خان ولایت د جنډولي ولسوالۍ اړوند د پنګ پيوا سر سيمې په پوځي پوستې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدينو له لوري برید ترسره شو، چې په ترڅ کې يې يو تن اجير پوځي ځای په ځای ووژل شو او بل يې مرګونی ټپي شو.

د بنو ولایت د شمالي وزيرستان د رزمک ولسوالۍ اړوند د ناول ژۍ په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدينو له لوري د ناپاک پوځ په ګزمې د ځمکني ماين په مټ چاودنه ترسره شوه، چې په ترڅ کې يې يو تن اجير پوځي هلاک او بل يې مرګونی ټپي شو.

د پېښور ولایت د خیبر ایجنسی د باړې ولسوالۍ د حاجي مرمر په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د ایف سي عسکرو په پوستې د لېزري وسلو په مټ برید ترسره شو، چې په ترڅ کې یې یو تن اجیر عسکر ووژل شو، همدارازیادې پوستې ته تېر شوی د اوبو پایپ یې هم په نښه او تخریب شو.

۱۲/ جنوري/ ۲۰۲۴م

د ډېره اسماعیل خان ولایت د درابڼ ولسوالۍ په بازار کې د تحریک طالبان پاکستان اتلو مجاهدینو د آئي ایس آئي استخباراتي اداري یو تن کارمند حزب اللّٰه د یو چریکي برید په ترڅ کې په نښه او وواژه.

د بنو ولایت د شمالي وزیرستان د میرعلي ولسوالۍ د خدي په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو او ناپاک پوځ ترمنځ سخته نښته رامنځته شوه، چې په ترڅ کې یې لږترلږه شپږ تنه اجیر پوځیان ځای په ځای ووژل شول او نور ګڼ شمېر یې ټپیان شول. په دغه نښته کې زموږ یو تن مجاهد ملګری هم د شهادت لوړ مقام ته ورسېد.

د پېښور ولایت د بډه بېرې ولسوالۍ اړوند د شیرکېرې په سیمه کې ناپاک پوځ د سي ټي ډي پولیسو او د همداراز د دوی له لوري د رامنځته شویو لښکریانو (ځائي پاڅون کوونکو او اربکیانو) په ملتیا د تحریک طالبان پاکستان په مجاهدینو چاپه ووهله، خو مجاهدینو پرې وار دمخه او پریکنده کاري دفاعي او ځوابي بریدونه ترسره کړل، چې په ترڅ کې یې چاپه ناکامه او درې تنه امنیتي منسوبین یې ووژل.

۱۳/ جنوري/ ۲۰۲۴م

د بلوچستان صوبې د مرکزي ښار کویټې اړوند سټلایټ ټاون په نوم سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د فضل په نوم یو تن اجیر پولیس ووژل شو.

د ډېره اسماعیل خان ولایت د درازندې ولسوالۍ اړوند برج فیکټ ته څېرمه د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د ایف سي یو حوالدار پداسې حال کې په نښه او ووژل شو، چې نوموړي د اوبو ماشین لګاوه.

۱۵/ جنوري/ ۲۰۲۴م

د بنو ولایت د شمالي وزیرستان د ګریوم ولسوالۍ د تریخ تلائي په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د ناپاک پوځ په یوې پوستې د درازکوف په مټ برید ترسره شو، چې په ترڅ کې یې یو تن اجیر پوځي ځای په ځای ووژل شو.

۱۶/ جنوري/ ۲۰۲۴م

د بنو ولایت د غزني خېلو ولسوالۍ په مربوطاتو کې د تحریک طالبان پاکستان اتلو مجاهدینو د ناپاک پوځ په یوې قرارګاه د ګنو سپکو او درنو وسلو په مټ تندریز تعارضي برید ترسره کړ، چې په ترڅ کې دښمن ته درانه مالي او ځاني تلفات واوښتل خو کره شمېر یې ندی ترلاسه شوی.

د ډېره اسماعیل خان ولایت د ټانک ولسوالۍ د عمر اډې په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له

لوري د علي په نوم د آئي ایس آئي استخباراتي اداري یو تن کارمند له نیولو او بشپړ تحقیق وروسته ووژل شو.

د ډېره اسماعیل خان ولایت د جنوبي وزیرستان د شکتوئی ولسوالی د لټکي نرګوسې په سیمه کې ناپاک پوځ د تحریک طالبان پاکستان په مجاهدینو چاپه ووهله، خو مجاهدینو پرې وار دمخه او پریکنده کاري دفاعي او ځوابي بریدونه ترسره کړل، چې په ترڅ کې یې چاپه ناکامه او مجاهدین ملګري ټول له سیمې څخه په وتلو کې بریالي شول.

د پېښور ولایت د مرکز پېښور اړوند د ریګي تانې په مربوطاتو کې د شاهي بالا په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري دوه تنه پولیس چې د ګوډاګي رژیم تش په نوم ستره محکمه یې تنده ترسره کوله، پداسې حال کې د یولړ عملیاتو په ترڅ کې په نښه شول چې په رخصتۍ باندې کور ته روان وو، چې په پایله کې یې کانسټیبل مرسلین هلاک او کانسټیبل عدنان مرګوني ټپي شو.

۱۷/ جنوري/ ۲۰۲٤م

د بنو ولایت د غزني خېلو ولسوالۍ اړوند د شهباز خېلو په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د یادې سیمې د پولیسو په تانې د ګنو سپکو او درنو وسلو په مټ برید ترسره شو، چې په ترڅ کې یې دښمن ته درانه مالي او ځاني تلفات واوښتل خو کره شمېر یې ندی ترلاسه شوی.

د بنو ولایت د غزني خېلو ولسوالۍ په مربوطاتو کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د پولیسو په تانې د ګنو سپکو او درنو وسلو په مټ برید ترسره شو، چې په ترڅ کې ګڼ شمېر پولیس ټپیان او ووژل شول.

د پېښور ولایت د خیبر ایجنسۍ د جمرود ولسوالۍ په مربوطاتو کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د ایف سي په عسکرو هغه مهال د ځمکني ماین په مټ چاودنه ترسره شوه، چې د سپرکي په نوم پوستې څخه بهر پیاده روان وو، چې په ترڅ کې ګڼ شمېر اجیر عسکر ټپیان او ووژل شول.

د ډېره اسماعیل خان ولایت د پروا ولسوالۍ اړوند د کړي شموزو په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري لومړی په ناپاک پوځ د ځمکني ماین په چاودنه ترسره شوه، شیبه وروسته ورپسې د پوځ په راتلونکي اکمالاتي کاروان هم د مجاهدینو له لوري کمین ووهل شو، چې په ترڅ کې یې دښمن ته درانه مالي او ځاني تلفات واوښتل خو کره شمېر یې ندی ترلاسه شوی.

د ډېره اسماعیل خان ولایت د ګومل ولسوالۍ اړوند د کوټ اعظم په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د ایف سي عسکرو په پوستې برید ترسره شو، چې په ترڅ کې یې دوه تنه اجیر عسکر ووژل شول او یو بل یې مرګوني ټپي شو.

د ډېره اسماعیل خان ولایت د جنوبي وزیرستان د شکتوئی ولسوالۍ د تریخ تالاۍ په سیمه کې د تحریک طالبان

پاکستان اتلو مجاهدینو د درزاکوف په مټ په ایف سي عسکرو برید ترسره کړ، چې په ترڅ کې یې یو تن اجیر عسکر ځای په ځای ووژل شو او همداراز د دښمن یوه څارونکې امنیتي کمره هم تخریب شوه.

د ډېره اسماعیل خان ولایت د پروا ولسوالۍ په مربوطاتو کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري په ناپاک پوځ په پرلپسې توګه دوه غبرګې چاودنې ترسره او وروسته کمین ووهل شو، چې په ترڅ کې یې ټولټال اتنه اجیر پوځیان ټپیان او ووژل شول.

د بنو ولایت د غزني خېلو ولسوالۍ اړوند د شهباز خېلو په سیمه کې د پولیسو په تاڼې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د کڼو سپکو او درنو وسلو په مټ تندریز تعارضي برید ترسره شو، چې په ترڅ کې یې اووه تنه اجیر پولیس ټپیان او ووژل شول.

۱۸/ جنوري/ ۲۰۲۴م

د ډېره اسماعیل خان ولایت د ټانک ولسوالۍ د پینګ پیوا سر په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان اتلو مجاهدینو د ناپاک پوځ په یوې قرارګاه د لېزري وسلو سربېره د راکټ لانچرو، جي ایل او لاسي بمونو په وسیله برید ترسره کړ، چې په ترڅ کې یې ناپاک پوځ ته درانه مالي او ځاني تلفات واوښتل خو کره شمېر یې ندی ترلاسه شوی.

د پېښور ولایت د بډه بېرې ولسوالۍ اړوند د ایف آر پېښور په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د امجد فاروق په نوم د آئي ایس آئي استخباراتي اداري یو تن کارمند په نښه شو، چې په ترڅ کې یې نوموړی مرګوني ټپي شو.

د ډېره اسماعیل خان ولایت د درازندې ولسوالۍ په مربوطاتو کې د تحریک طالبان پاکستان د غیورو مجاهدینو له لوري د ناپاک پوځ په موټر د ځمکني ماین په مټ چاودنه ترسره شوه، چې په ترڅ کې یې موټر تخریب، یو تن پوځي مړ او نور کڼ شمېر یې ټپیان شول.

۱۹/ جنوري/ ۲۰۲۴م

د ډېره اسماعیل خان ولایت د ګومل ولسوالۍ اړوند د ګرنډۍ په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د درازکوف په مټ د ایف سي یو تن اجیر عسکر ووژل شو.

د پېښور ولایت د خېبر ایجنسۍ د باړې ولسوالۍ اړوند په کوهي بازار کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري پولیسو په پوستې د کڼو سپکو او درنو وسلو په مټ تندریز تعارضي برید ترسره شو، چې په ترڅ کې شپږ تنه اجیر پولیس ټپیان او ووژل شول او همداراز د پولیسو یو موټر هم په بشپړ ډول تخریب شو.

د بنو ولایت د لکي مروت ولسوالۍ د شاه حسن خېلو په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د ناپاک پوځ په قرارګاه د کڼو سپکو او درنو وسلو په مټ تندریز تعارضي برید ترسره شو، چې په ترڅ کې یې لږترلږه دوه تنه اجیر پوځیان ټپیان او ووژل شول.

د ډېره اسماعیل خان ولایت د کلاچی ولسوالۍ اړوند د لوني په سیمه کې ناپاک پوځ سیمه کلابنده، کلیوال محاصره او د تحریک طالبان پاکستان په مجاهدینو چاپه ووهله، چې په ځواب کې مجاهدینو په ناپاک پوځ پریکنده کاري دفاعي او ځوابي بریدونه ترسره کړل، چې په ترڅ کې یې چاپه ناکامه او ګڼ شمېر پوځیان یې ټپیان او ووژل شول.

په یاده معرکه کې زموږ دوه تنه مجاهدین ملګري هم د شهادت لوړ مقام ته ورسېدل. نحسبهم کذالک واللّه حسیبهم

۲۰/ جنوري/ ۲۰۲٤م

د ډېره اسماعیل خان ولایت د جنوبي وزیرستان د شکتوئی ولسوالۍ اړوند د جنتې په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د ناپاک پوځ په یوې لارۍ ډوله موټر د ځمکني ماین په مټ چاودنه ترسره شوه، چې په ترڅ کې یې موټر په بشپړ ډول تخریب او پکې سپاره څلور تنه پوځیان یې ووژل شول.

۲۱/ جنوري/ ۲۰۲٤م

د ډېره اسماعیل خان ولایت د کومل ولسوالۍ د کوټ اعظم په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د ناپاک پوځ په کاروان کمین ووهل شو، چې په ترڅ کې یې څلور تنه اجیر پوځیان ځای په ځای ووژل شول.

د ډېره اسماعیل خان ولایت د کلاچی ولسوالۍ اړوند د مدي په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د پولیسو په یوې پوستې د ګنو سپکو او درنو وسلو په مټ تندریز تعارضي برید ترسره شو، چې په ترڅ کې یې اته تنه اجیر پوځیان ټپیان او ووژل شول.

باید ووایو، چې په همدې شپه یادې پوستې ته په راتلونکي اکمالاتي کاروان هم د مجاهدینو له لوري کمین ووهل شو، چې په ترڅ کې یې د پولیسو یو موټر په بشپړ ډول تخریب او پکې سپاره ټول پولیس ټپیان او ووژل شول.

د پېښور ولایت د مرکز پېښور اړوند د ریګي تاڼې په مربوطاتو کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د یولړ پیچلو عملیاتو په ترڅ کې د آئي ایس آئي استخباراتي اداري یو مېجر اسلم په نښه او ووژل شو.

۲۲/ جنوري/ ۲۰۲٤م

د ډېره اسماعیل خان ولایت د جنوبي وزیرستان د شکتوئی ولسوالۍ د خواجه خدرسر په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان اتلو مجاهدینو د درازکوف په مټ د ناپاک پوځ یو تن اجیر سرتېری وواژه.

د بنو ولایت د شمالي وزیرستان د ګریوم ولسوالۍ په مربوطاتو کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د ناپاک پوځ په یوې لارۍ ډوله موټر د درازکوف په مټ برید ترسره شو، چې په ترڅ کې یې دوه تنه اجیر پوځیان ځای په ځای ووژل شول.

د بنو ولایت د شمالي وزیرستان د میرعلي ولسوالۍ د کجوري په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د ناپاک پوځ په یوې قرارګاه د جي ایل په مټ برید ترسره شو، چې په ترڅ کې یې دښمن درانه مالي او ځاني تلفات واوښتل خو کره شمېر یې ندی ترلاسه شوی.

د ډېره اسماعیل خان ولایت د جنوبي وزیرستان د شکتوئی ولسوالۍ اړوند د شوغار په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان اتلو مجاهدینو د ناپاک پوځ یو ټن اجیر پوځي د دارکوف په مټ وواژه.

۲۳/ جنوري/ ۲۰۲٤م

د جنوبي پنجاب ولایت د ډېره غازي خان ولسوالۍ په مربوطاتو کې د ناپاک پوځ په جنګي نومي چیک پوسټ باندې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري تندریز تعارضي برید ترسره شو، چې په ترڅ کې یې دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته خو کره شمېر یې ندی ترلاسه شوی.

د ډېره اسماعیل خان ولایت د جنوبي وزیرستان د زرمېلنې ولسوالۍ په مربوطاتو کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري په ناپاک پوځ د کڼو سپکو او درنو وسلو په مټ تندریز تعارضي برید ترسره شو، چې په ترڅ کې دښمن ته درانه مالي او ځاني تلفات واوښتل خو کره شمېر یې ندی ترلاسه شوی.

۲٤/ جنوري/ ۲۰۲٤م

د بنو ولایت د ډومېل ولسوالۍ اړوند د کانګي خېلو په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان اتلو مجاهدینو د ایف سي عسکرو په موټر کمین وواهه، چې په ترڅ کې دښمن ته اوښتې مرګ ژوبلې په کره معلومات ندي ترلاسه شوي.

۲۵/ جنوري/ ۲۰۲٤م

د ډېره اسماعیل خان ولایت د کومل ولسوالۍ اړوند د مانجي کلا په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د راکټ لانچرو سربېره د کڼو سپکو او درنو وسلو په مټ تندریز تعارضي برید ترسره شو، چې په ترڅ کې یې دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته خو کره شمېر یې ندی ترلاسه شوی.

د بنو ولایت د لکي مروت ولسوالۍ اړوند د سرای ګمبیلا په سیمه کې ناپاک پوځ د تحریک طالبان پاکستان په مجاهدینو د چاپې وهلو ناکامه هڅه وکړه، داچې مجاهدینو پرې په وخت پریکنده کاري دفاعي او ځوابي بریدونه ترسره کړل، په ترڅ کې یې په لسهاوو تنه اجیر پوځیان ټپیان او ووژل شول او همداراز د دښمن یوه ډرون کمره هم په نښه او تخریب شوه. په یاده معرکه کې مجاهدینو له دښمن څخه څو میله اسلحه هم د غنیمت په توګه ترلاسه کړه.

د پېښور ولایت د خېبر ایجنسۍ د باړې ولسوالۍ اړوند د دوجنګي په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د نیاز بادشاه په نوم د استخباراتي ادارو او ناپاک پوځ یو جاسوس په نښه او ووژل شو.

د ملاکنډ ولایت د مرکز ملاکنډ اړوند د سخاکوټ په سیمه کې د ایف سي عسکرو د تورپل خان په پوستې باندې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لاسي بمونو په وسیله برید ترسره شو، چې په ترڅ کې یې د لیویز درې تنه اجیر عسکر ټپیان شول.

د پېښور ولایت د خېبر ایجنسۍ د باړې ولسوالۍ اړوند د

تنګي کنډو په سيمه کې د تحريک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدينو له لوري د ايف سي اجيرو عسکرو په پوستې د لېزري وسلو په مټ برید ترسره شو، چې په ترڅ کې يې دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته خو کره شمېر يې ندی ترلاسه شوی.

۲۶/ جنوري/ ۲۰۲۳م

د پېښور ولايت د مرکز پېښور اړوند د چارسدې ولسوالۍ په عمومي سړک د تحريک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدينو له لوري د پوليسو يو کانسټيبل حاجي کامران په نښه او ووژل شو.

۲۸/ جنوري/ ۲۰۲۳م

د بنو ولايت د لکي مروت ولسوالۍ د شاه حسن خېلو په سيمه کې د تحريک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدينو له لوري د درازکوف په مټ د ناپاک پوځ يو تن اجير پوځي ووژل شو.

۲۹/ جنوري/ ۲۰۲۳م

د پېښور ولايت د خېبر ايجنسۍ د جمرود ولسوالۍ د غونډۍ سيمې اړوند د ايف سي په وروکي نهر نومي چيک پوسټ باندې د تحريک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدينو له لوري برید ترسره شو، چې په ترڅ کې يې د ايف سي درې تنه اجير عسکر ټپيان شول.

۳۰/ جنوري/ ۲۰۲۳م

د بنو ولايت د شمالي وزيرستان د ګريوم ولسوالۍ اړوند د کانډي کاکاخېلو په سيمه کې د تحريک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدينو له پوځي پوستې ته د خوارکي توکو په لېږدونکي لارۍ ډوله موټر کمين ووهل شو، چې په ترڅ کې يې يو تن اجير پوځي ووژل شو.

د بنو ولايت د شمالي وزيرستان د ګريوم ولسوالۍ اړوند د شام پلين په سيمه کې پوځي ټانک د تحريک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدينو له لوري د ځمکني ماين په مټ چاودنه ترسره شوه، چې په ترڅ يې دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته خو کره شمېر يې ندی ترلاسه شوی.

د پېښور ولايت د خېبر ايجنسۍ د باړې ولسوالۍ اړوند د منډي کس په سيمه کې د تحريک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدينو له لوري د ناپاک پوځ په چيک پوسټ تندريز تعارضي برید ترسره شو، چې په ترڅ کې يې څلور تنه اجير پوځيان ووژل او درې نور يې مرکوني ټپيان شول او همداراز د وژل شويو پوځيانو اسلحه هم د مجاهدينو لاس ته ورغله.
شيبه وروسته ورپسې په يادې ولسوالۍ کې د ناپاک پوځ یاد پوستې ته د چټک غبرګون قطعي په راتلونکي اکمالاتي کاروان هم کمين ووهل شو، چې په ترڅ کې يې دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته خو کره شمېر يې ندی ترلاسه.

د بنو ولايت د شمالي وزيرستان د ميرانشاه ولسوالۍ اړوند د تپي په سيمه کې ناپاک پوځ د تحريک طالبان پاکستان په مجاهدينو د چاپې وهلو ناکامه هڅه وکړه، مجاهدينو هم پرې پريکنده کاري دفاعي او ځوابي بریدونه ترسره کړل، چې په ترڅ کې يې يو تن اجير پوځي ووژل شو او يو بل

يې مرګونی ټپي شو.

۳۱/ جنوري/ ۲۰۲۳م

د پېښور ولايت د خيبر ايجنسۍ د جمرود ولسوالۍ اړوند د چورې جبار خېلو په سيمه کې د ايف سي عسکرو په پوستې د تحريک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدينو له لوري تندريز تعارضي بريد ترسره شو، چې په ترڅ کې يې پنځه تنه اجير عسکر ووژل شول.

د پېښور ولايت د خيبر ايجنسۍ د جمرود ولسوالۍ د علي مسجد ته څېرمه د ازغو ميلې په سيمه کې د تحريک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدينو له لوري د ناپاک پوځ يو تن اجير پوځي د لېزري وسلو په مټ ووژل شو.

د پېښور ولايت د بډه بېرې ولسوالۍ اړوند د ايف آر پېښور په سيمه کې د تحريک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدينو له لوري د ناپاک پوځ يو جاسوس چې آياز نومېده، د يو چريکي بريد په ترڅ کې په نښه او ووژل شو.

75 ټول بریدونه

2024م کال د جنورۍ (جمادي الثاني-رجب المرجب)



اووښتي تلفات 160

70 وژل شوي

90 ټپیان

د عملیاتو ډولونه

15 سنائپر یا لیزري بریدونه

14 تعارضي بریدونه

11 لاسي بمونه/بمي چاودنې

11 کمینونه

11 هدفي بریدونه

07 ځوابي بریدونه

05 چریکي بریدونه

01 توغندیز بریدونه

له دښمن څخه د مجاهدینو لاسته ورغلې وسلې

01 یو ایم پي پنځه ټوپک

02 میله کلاشینکوفونه

تخریب

01 عدد ډرون کمره

05 عراده پوځي وسایط

04 کشفي کمرې

02 عراده د پولیسو موټر

د عملیاتو ځای

02 د ملاکنډ ولایت

18 د پېښور ولایت

24 د بنو ولایت

25 د ډېره اسماعیل خان ولایت

02 ولایت کوهاټ

03 بلوچستان ایالت

01 د جنوبي پنجاب ولایت

UMAR MEDIA

تحریک طالبان پاکستان

HTTPS://UMARMEDIATTP.ORG

ډیمو
کراسي

اوسنۍ ډیموکراسي د شیخ ولی اللّه کابلګرامي رحمه اللّه له نظره

وجمهورية عصرنا هذا فيها إعطاء سلطة التشريع غيره سبحانه وفيها اسناد الأمر إلى غير أهله وفيها تأمير الفساق في الأكثر الغالب دون الأهل والصالحين...إلى ان قال جمهورية عصرنا في العالم كله ضد.

او زموږ د زماني په ډیموکراسۍ کې د قانون جوړوني واک له اللّه پرته بل چاته ورکول کېږي او دا کارنا اهلو ته سپارل کېږي او اکثراً په دې کې فاسقان مشران ټاکل کېږي نه دا چې اهل او صالح خلک ټاکل کېږي.
زیاتوي چې دا ډیموکراسي په بشپړه توګه د اسلام خلاف ده.

اعلام الاعلام : ۲۴۷